PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړي کال ، ٤٨ ګڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال داسد ۲۳مه

په ګرشك كي ۲۱ پوستي فتحه اودرژيم ۲۰۰ پلويان وژل شوي دي

په (۸) مخ كي

دپكتيا دتيرى په كندو كي ددښمن يوه الوتكه راوغورځيده

دپكتيا ولايت دګرديز دجهادى مركزونو څخه دجهاد هندارى خبريال خبرراكوى چي ميړنيو مجاهدينو په هغو ګڼو عملياتو كي چي دګرديز ښارجنوب لويديز ارخ دزرمت ولسوالۍ استقامت يې وكړل دګارد مليشه يوه پوسته د درنو وسلو ددزو په وسيله ړنګه كړه. خبر زياتوى چي په دغو عملياتو كي څلور تنه مليشه وژل شوى دى.ديو بل خبرله مخى مجاهدينو دګرديز په شاوخوا كى د سروړى دمليشه و پوسته ويجاړه كړه ، يو جيپ موټر تخريب اودوسلو اومهماتو يوه ډيپويى سوځيدلى ده .

ديو بل خبرله مخى داسد په ۱۹ نيټه دتيره په كندو كى د دښمن يوه هليكوپټر الوتكى په هواكى اور واخيست اوراوغورځيده .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دجهادهنداری سره په مرکه کي:

مجاهدين به هيڅ كله داسى طرحه ونه مني چي دجهاد له اهدافو سره مغايرت ولري

په (۲)مخ

دآزادى غوښتونكو كشميريانو او هندى پوځيانو ترمنځ سختى نښتى وشوى

سرى نګر ،اسد ۲۱ مه :

دنړيوالو خبرى منابعو له مخى دنيول شوى كشمير په زياتو برخو كى دازادى غوښتونكو كشميرى مجاهدينو اودهندى پوځيانو ترمنځ خونړۍ نښتى روانى دى ، خبرونه وايى چى دتيرو ۲٤ ساعتونو په ترڅ كى په سوونو هندى پوځيان مړه اوپه لسګونو مجاهدين په شهادت رسيدلى دى ، خبرځاى زياتوى چى دنوو نښتو پيل دپاكستان دپولى سره نږدى دضفرخان نومى له يوه كلى څخه وشو، په دغه ځاى كى له ۳۰ تنو څخه زيات هندى پوځيان مړه او څو تنه مجاهدين شهيدان شول خبر زياتوى چى دكپواړى په سيمه كى هم سختى نښتى وشوى چى په نتيجه كى ٤۰ هندى پوځيان مړه اوله ۱۲ تنو څخه زيات مجاهدين په شهادت ورسيدل په همدى ترتيب په سرينګر ، ريناوارتى بدګام او دباره مولا په سيمو كى هم دواړو خواوو تر منځ خو نړۍ نښتى روانى دى چى دځانى او مالى تاوان پوره خبريى ندى ترلاسه شوى.

مجاهدين بر پوسته هاى ولسوالى چهاردهى عمليات نمودند

كابل ، ميديا :.

يك منبع جهادى به ميديا ګزارش ميدهد كه مجاهدين بتاريخ ۱٦ اسد ازمنطقه ده پاك للندر ، كوه قروغ ولسوالى چهاردهى ولايت كابل ، پوسته هاى امنيتى قلعه غلام حيدر خان ، قلعه عبدالعلى وباغ داؤد راهدف سلاح هاى دوربرد قرار داده كه درنتيجه (۱٥) نفر افراد رژيم هلاك (۲۰) نفر زخمى وچهارعراده وسايط نقليه به اتش كشيده شده است .

خبر مى ګويد درباغ داؤد ۸ نفرازخادستان رژيم هلاك ، پنج نفر مجروح وتعمير باغ مذكور خساره مند ګرديده است .

ويتنام صدراعظم استعفى وكړه

هانوى ، رويتر :

نړيوالو خبرځايونو خبر وركړى چى دويتنام صدراعظم اوددغه هيواد دكمونست ګوند مشره دومبوى ، له خپلى دندى څخه استعفى وكړه .

په خبرونو كى ويل شوى چى نومړى صدراعظم خپله استعفى ددغه هيواد دملى اسمبلى دغونډى په جريان كي ، اسمبلى ته وړاندى كړه چى اسمبلى دهغى منظورى وركړه .

يك دستگاه سكد رژيم كابل در مزار شريف منفجرگرديد

كابل ، ميديا :

خبرنګار اعزامى ميديا كه از شهر كابل بازګشته است ازقول يك شاهد عينى خبر ميدهد كه يك دستګاه فير سكد رژيم كابل در مزارشريف هنګام عمليات برمناطق مجاهدين درولايات همجوار منفجر شده ازبين رفته است .

طبق راپور خبرنګار ميديا درين حادثه ده نفر ازپرسونل دستګاه مذكور كشته و ۲۲ نفر ديګر مجروح شده اند .

خبرنګار ميديا مى افزايد ، دستګاه منفجر شده فير سكد ازجمله دو دستګاهى است تازه به افغانستان وارد شده ودر شهر مزارشريف نصب شده بود .

لينن جاسوس المان بود

لينن رهبر كمونست هاي روسيه ورئيس نخستين دولت كمونستي جهان كه كمونست ها وي رارهبر پرولتارياي جهان مي خوانند ، جاسوس المان بوده است .

اين مطلب دركتاب تاريخ كه بحيث كتاب جديد درسي درروسيه منتشر شده انعكاس يافته است .

طبق يك خبر راديو بي ، بي ، سي كتاب مذكور كه ازطرف محققين بيطرف به نګارش امده بعد ازين بحيث كتاب درسي تاريخ درمكاتب ومدارس روسيه به عوض كتاب قبلي كه دران روي نقش حزب وحكومت كمونستي ودرراس تمام جريانات لينن رآ قرار ميداد خط بطلان كشيده است .

خبر بي ، بي ، سي حاكيست كه دركتاب مذكور انچه كه قبلا انقلاب پرولتاريا در ۱۹۱۷ خوانده مي شد يك كودتا تشخيص شده ودركتاب مذكور تصريح ګرديده است كه لينن درطول سال هاي جنګ جهاني اول به جرمنها جاسوسي كرده است .

دجوزجان ولايت يو ولسوال مجاهدينو ته تسليم شو

جوزجان ، ميديا :

په پيښور كى دجوزجان ولايت يو خبر ځاى ميديا ته رپوټ وركړچى دجوزجان ولايت په جنوبى خواكى دكوهستاناتو دولسوالى ولسوال محمد ګل د۵۰ تنو مليشه عسكرو اوصاحب منصبانو سره دسرپل ولسوالى مجاهدينو ته داسد په ۱۲ مه نيټه پناه وړى ده .

رپوټ وايى چى ولسوال محمد ګل خپلى پوستى ړنګى كړى اودخپل ټول نظامى پرسونل سپكو اودرندو وسلو اوزيات مقدار مهماتو سره يى ځان دسرپل ولسوالى مجاهدينو ته ورسولى اوخپله همكارى يى دكابل رژيم سره پريښودلى ده .

همدارنګه دسرپل ولسوالى څخه ديو بل رپوټ له مخى مجاهدينو دګازو دانتقال دپايپ لاين پر امنيتى پوستو باندى يو بريد ترسره كړ چى دجرقدق په سيمه كى يوه پوسته تخريب ، درژيم ۵ تنه پلويان مړه او پنځه تنه نور له يو مقدار وسلو اومهماتو سره په اسارت ونيول شول .

چي ومي ليدل نوومي ليكل

جهادي سنګرونوته دسفر لنډ راپور تاژ په دريم مخ

يك ديپوى مهمات نظامى رژيم درولسوالى بگرامى منفجر شد

كابل ، ميديا :

يك منبع جهادى به (ميديا) ګزارش مى دهد ، مواد منفجره كه از طرف مجاهدين دريك ديپوى مهمات نظامى رژيم درولسوالى بګرامى ولايت كابل بتاريخ ۱۹ اسد ګذاشته شده بود ، منفجر ونتيجتاً ۱۰ نفر ازافراد هلاك ۱٤ نفر زخمى ودوپوسته امنيتى ازبين رفته است .

په بغلان كي درژيم درى پوستى ونيول شوى

بغلان ، ميډيا :

دبغلان له ولايت نه ميډيا ته رپوټ وركړشوى چى مجاهدينو داسد په ۱٤ مه نيټه ددغه ولايت دمركزى كمربند پر امنيتى پوستو اودپل تيمورك پرپوځى مركزونو يو لړ بريالى عمليات ترسره كړل چى په نتيجه كي درژيم دقواؤ درى پوستى دبغلان دمركز په طرف كى نيول شوى شپږ تنه عسكراومليشه مړه اوڅلور تنه نور يى ټپيان اودرژيم قواو ته درانده مالى تاوانونه اوړيدلى دى.

رپوټ زياتوى چى مجاهدينو يو ميل دهشكه يو ميل پيكا ماشيندار (۲۰) ميله كلاشينكوفونه اويوه اندازه مهمات اوخوراكى مواد دغنميت په توګه ترلاسه كړى دى .

دفارياب په ولايت كي ددښمن څلور پوستى فتحه شوى

فارياب ، ميديا :

دفارياب له ولايت نه ميديا ته رپوټ وركړشوى چى مجاهدينو دفارياب په ولايت كى دشباختو دسيمي پرپوستو بريدوكړ چى په نتيجه كى درژيم څلور پوستى نيول شوى ۱٦ تنه عسكراومليشه مړه او ۲٤ تنه نور يى ددوه تنو صاحب منصبانو سره ژوندى نيول شوى دى اوهم ددښمن دقواؤ دوسلو يوه ډيپو داور لمبه شويدى .

مجاهدينو يو ميل (۷٦) ملى مترى صحرايى توپ ، يو ميل هاوان ، يو ميل زيګويك ، يو راكټ ، دوه ميله پيكا ماشيندارى (۳۵) ميله كلاشينكوفونه ديوى اندازى مهماتو سره ولجه كړيدى .

سرمقاله

ګام ثمر بخش بسوى تحكيم موضع سياسى

پيوسته تقاضا ازسوى مجاهدين ومهاجرين اين بوده است ، تا فتوحات وجانبازى هاى مجاهدين هميشه درسنګر باتوحيد كردار سياسى وبرنامه سياسى ازسوى رهبران جهادى هرچه بيشتر تحكيم يابد ونبايد ګذاشت تارژيم كابل بابراه اندازى افواهات ومكاره ګرى سياسى اهميت سياسى ونظامى دست آورد رزمى مجاهدين راكم اهميت جلوه دهد .

برد دررزمګاه ميتواند درصحنه سياست با اجراى كردار شايسته وسنجيده سياسى پيروزى بدست آمده رابادرخشش بيشتر چشمګيرتر سازد،اما اګر پيروزى بدست آمده بطرز بهتر و خوبتر تمثيل نګردد دشمن ميتواند ازين نكته به نفع خويش استفاده برد .

تااكنون مجاهدين ونيروهاى جهادى به ضرورت تحكيم جبهه سياست كمتر ارزش داده اند ، البته اين حقيقت رامى پذيريم كه تصفيه بادشمن درموضع وسنګر رزم صورت مى ګيرد اما اګر ميدان سياست به دشمن ګذاشته شود ميتواند ازاين خلاتاسرحد پيروزى استفاده نمايد .

درصفحه ۸

دجنګ قوماندہ اواداره دمجاهدينو اوقوماندانانو په لاس كي ده هيڅوك نشي كولاى چي دمجاهدينو له غوښتني پرته جنګ ودروي «الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

مجاهدین به هیڅ کله داسې طرحه ونه مني چې دجهاد له اهدافو سره مغایرت ولري

مرکه کوونکي :« رحیمزی »

پوښتنه : هیله مند یوعربی هیوادونوته دخپل وروستنی سفردځرنګوالی اودهغه دنتایجوپه هکله درنو لوستونکوته معلومات ورکړی

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم ، نحمدالله رب العالمین ، ونستعینه ونستهدیه ونستغفره ونومن به و نتوکل علیه ، ونصلی ونسلم علی سعید الانبیاء والمرسلین وعلی اله واصحبه اجمعین اما بعد !

عربی هیوادونو ته زما دسفر لومړنی علت خوداؤچې سږکال حج اکبر ؤ اوداحج نسبت نوروحجونو ته زیات فضلیت لري نوما دحج دفریضی اداءکولو په اراده سعودی عربستان ته سفر وکړ البته دحج دفریضی اومناسکو تراداکولووروسته می په هغه هیواد کی له علمی اولوړ رتبه دولتی مقاماتو اوهلته د میشتو افغانانو سره لیدنی کتنی وشوی له بلی خوا دخوست تر ستری فتحی دمخه شیخ زید بن سلطان دوه ځله په پاکستان کی دخپل سفیر په وسیله ماته بلنه راکړی وه خو داچی هغه وخت زه پرخوست باندی دیو مخیزی حملی او عملیاتو دپروګرام په جوړولو بوخت وم نو له ورتګ څخه می معذرت وغوښت خوکله چی خوست دلوی خدای (ج) په مرسته اودمجاهدینو دګډو عملیاتو په نتیجه کی فتحه شو او بیا دحج دفریضی اداءکولو وخت راورسیدنوکله چی دحج لپاره روانیدم ، هلته ما دعربی آماراتو څخه دلیدنی کتنی پروګرام هم جوړ کړ او ماته خبر راکړل شو چی دحج ترمراسمو دری څلور ورځی مخکی دملاقات پروګرام دی،په آماراتو کی دشیخ زید بن سلطان سره درسمی ملاقات څخه وروسته دذی الحجة دمیاشتی په اتمه نیټه مکی معظمی ته چی (یوم ترویحه) ورته وایی ورسیدم ، او دحج په مناسکو کی می شرکت وکړ ، الله (ج) دی یی قبول کړی ، که څه هم دحج ترمراسمو وروسته زما اراده داوه چی زه ژر بیرته راوګرځم ، لیکن دعربی هیوادونو خلکو علمی او حکومتی مقاماتو چی زموږ دانقلاب له پیل څخه یی له مجاهدینو سره ډیری مرستی کړی ، اوهغوی په دی لحاظ زموږ پر مجاهدینو ډیر حق لری ، پدی وروستیو وختونو کی ددغو هیوادونو خلکو دراډیو ګانو له لاری څخه ډول ډول اوناګواره خبرونه او تبلیغات اوریدلی وو مثلاً داچی له یوی خوا دایران حکومت دروسانو او نجیب سره څه ګړی موافقی ته رسیدلی اوغواړی دافغانستان جهاد بدنام اوخنثی کړی ، بل لوری ته متاسفانه زموږ دتنظیمونو دځینو مشرانو له خوا هم یو لړ غلط حرکتونه پیل شوی ؤ ، دوی داسی برداشت اواټکل کړی وو چی مجاهدین به یو داسی سیاسی حل ومنی چی په هغی کی به له کمونستانو اودقتل اوقتال له مرتکبینو او دافغانستان دورانی اوبربادی له مسؤلینو سره به یا ګډ حکومت جوړوی ، یا به یو بی طرفه حکومت جوړیږی ، اوپدی بی طرفه حکومت کی به هم کمونستان برخه لری او هم مسلمانان ، دغه اوازی په عربی هیوادونو کی خپری شوی وی اودهغوی په روحیاتو باندی یی ډیر لوی تاثیر کړی وو، او ډیر لوی تشویش ورسره پیداشوی وو نو په همدی خاطر زه دی خبری مجبور کړم چی د عربستان اکثره لویو لویو ښارونو ته دیوی یوی ورځی لنډ سفرونه وکړم. ماهلته جلسی اوغونډی جوړی کړی ، اودمجاهدینو هغه لوی فتوحات اوبریالیتوبونه می چی سږکال الله تعالی (ج) مجاهدینو ته ورپه برخه کړی لکه دخوست فتحه اوورپسی دخان آباد ، دشت ارچی ، خواجه غار ، قیصار ، چمتال ، زیباك ، اوداسی نورو فتوحاتو اودروانو جنګونو چی دقوماندانانو شورا دپروګرام په اساس روان دی ، ددی په هکله مو خلکو ته اطمینان ورکړ ،او داخبره موښکاره کړه چی ترڅو دروسانو مزدور رژیم ختم نشی ، نه جنګ توقف کولای شی او نه سیاسی حل راتلای شی ، اودجنګ زمام اواراده الحمد لله دمجاهدینو اوقوماندانانو په لاس کی ده ، هیڅ څوك نشی کولای چی دمجاهدینو دغوښتنی پرته جنګ ودروی ، نو موږ خپلو عربو ورونو ته ددی شی اطمینان ورکړ ، اوپدی سبب زما تقریباً دوه میاشتی دحج دورځو په شمول پدی سفر کی تیری شوی اودی سفر نتیجی زما په خیال اودځینو هغو دوستانو په نظر چی هلته موجود ؤ ، ډیری کامیابی وی . زه دتیری یکشنبی په ورځ له دغه سفر څخه چی دحج سفرو و اوپه ضمن کی دعربی هیوادونو دخلکو له ازهانو څخه دځینی اشتباهاتو رفع کول ؤو اوهغوی بیرته دغه مسیر یعنی دمجاهدینو مرستی ته آماده کول وو ، له هغی څخه بیرته راوګرځیدم .

پوښتنه : ستاسی په نظر دخوست دتاریخی اوویاړمنی فتحی انعکاس په عربی هیوادو کی څه ډول وو ، دهغوی په عوامو اودولتی مقاماتو کی یی څه ډول تاثیر اچولی ؤ؟

ځواب : حقیقت دادی چی کله څوك دیوی حادثی په داخل کی موجود وی ، نو دهغی داهمیت یاد هغی لوی والی او وړ والی ښه نه ورته معلومیږی ، داسمه ده چی دخوست پر فتحه موږ ډیر خوشحاله ؤاوډیره لویه راته ښکاریده خو داچی نورو خلکو ته اونوری نړی ته به هم دادومره لویه وی ، اودومره خوشحالوونکی به وی ، حتی داسی خلکو ته هم چی له افغانستان څخه ډیرلری پراته دی ، او دافغانستان جګړه یی هیڅ لیدلی نده دافکر مو هیڅ نه کاوه ، خو کله چی زه هلته لاړم ، ومی لیدل دافغانستان څخه دروس عسکرو په تیښته وتلو چی څومره خوشحالی وه اوس دخوست دفتحی له امله په

مجاهدین هیڅکله داسي طرحه نه شي منلاي چي دهغي دنه منلو په خاطرين دومره جهاد کړي دی

خلکو کی تر هغی زیاته خوښی ښکاریدله ، زه چی هلته لاړم خلکویو بل ته زیری ورکول ، اوخوشحالی یی کولی ، نو ما چی هلته دخلکو خوشحالی ولیدلی ، هلته دخوست دفتحی په اهمیت باندی پوه شوم ، او وپوهیدم چی ټول عالم ته داڅومره خوشحالوونکی وه اودمسلمانانو روحیات الله (ج) څومره پری اوچت کړی ، ما داخوشحالی هلته په خورا زیاته پیمانه باندی درك کړه ، چی دلته ما دومره نشوای درك کولای ، دحج په مراسمو کی غیر له عربو ،له نورو خلکو سره چی ما ولیدل ، ددی خبری ډیر لوی تاثیر پروت ؤ ، اوډیر ښه انعکاس یی درلود .

پوښتنه : لکه چی ګورو اوس اوس دافغانستان دمسئلی دحل لپاره دپاکستان اونړی په سطحه یو لړ کوششونه کیږی ، پدی لړ کې دملګرو ملتو سازمان دعمومی منشی له خوا هم یوه پنځه ماده ایزه طرحه وړاندی شوی ، ستاسی په نظر دغه ډول هلی ځلی اودغه ډول طرحی ترکومه حده پوری زموږ دمسئلی دحل لپاره موثری دی او ترکومه حده دمنلو وړدی؟

شپږم مخ کي

دافغانستان دجګړې پای نژدې که لرې ؟!

احمد ضیا

کله چی له افغانستان څخه دروسانو وحشی اویرغلګرپوځ زموږ دمسلمان او برمیال ولس دشجاعانه قیام اومقاومت په مقابل کی له شرمیدونکی ماتی څخه وروسته — — په شاتګ ته اړشو ، متاسفانه دلویدیزی نړی دعامه ارتباط وسایلو په تیره بیا مطبوعاتو خپل موقف ته دافغا نستان دقضیی په هکله په یو ځل د (۱۸۰) درجی په زاویه تغیر ورکړ ، زموږ دجهاد او مجاهدینو پر ضد یی خپل زهرجن تبلیغات پیل کړل او په بیلا بیلولارو یی زموږ دجهاد او مجاهدینو دبد نامولو مذبوحانه هلی ځلی وکړی .

تیره سه شنبه دامریکا غږ راډیوپه خپله ماښامنی پښتو خپرونه کی دافغانستان داوسنی اوضاع په په هکله لیکل شوی د«کرسچن ساینس ما نیټر » ورځپانی دخبریالی «شیلاتیف »یورپورټ خپورکرچی زموږداسلامی جهاد سره دغربی مطبوعاتو ضدیت او حساسیت تری په ډاګه کیږی .

دنوموړی ورځپانی خبریالی دخپل رپوټ په سر کی ادعا کړی ده چی « دافغانستان دجګړی پای رانژدی دی ، دا جګړه ټولی دنیا ختمه ګڼلی ده خو افغانانو ته لا ختمه نده » که څه هم لکه مخکی چی ورته اشاره وشوه دالومړی ځل ندی چی لویدیځ مطبوعات دافغانستان دقضیی په هکله په زهرجنو تبلیغاتو لاس پوری کوی ولی دانده معلومه چی نوموړی خبریاله په څه دلیل او څه استناد ادعا کوی چی ګواکی دافغانستان دجګړی پای را نژدی شوی دی پداسی حال کی چی خپله پدی اعتراف کوی چی افغانانوته داجګړه لاختمه نده ؟

زموږ دمسلمان ولس اسلامی جهاد چی «شیلاتیف »ورته دافغانانو جګړه" وایی دهمدی مظلوم ولس له خوادکفر الحاد استعمار،تیری اوظلم پرخلاف پیل شوی اوخپله همداافغانان دی چی هغه مخ په وړاندی بیایی ، پدی منځ کی که دځینو نړیوالو اسلامی یا غیر اسلامی منابعو اوهیوادونو له خوا دهغوی سره څه مرسته شوی یا کیږی دادی معنی نلری چی ددی جهاد ټول واك او اختیار به هم دهغوی په لاس کی وی ، کله چی هغوی وغواړی داجګړه به ادامه لری اوکه ونه غواړی نوهغه به پای ته رسیږی ، او ختمیږی به ! داجګړه افغانانو پیل کړی ، پای یی هم دافغانانو په لاس دی اودبری سرمنزل ته چی دظلم اوتیری په نتیجه کی پر افغانانو دتپل شوی» مزدور رژیم،دوروستیو جرړو ایستل دی ، په رسیدو به ختمیږی .

د«کرسچن ساینس مانیټر» خبریاله وړاندی لیکلی چی" زیاتو هیوادونو چی مجاهدینو ته یی مرسته کوله اوس دملګرو ملتو دسازمان دسولی پلان ته هر کلی ویلی ،

«شیلاتیف » ادامه ورکوی : «... امریکا چی داڅو میاشتی یی مجاهدینو ته خپله مرسته کمه کړی ،اوس ګواښ کوي چی بل کال ته به بیخی مرسته ونکړی !»

فکرکوم څوڅو ځلی داخبره دجهادی مشرانو له خولی ، اوپه جهادی مطبوعاتو کی تکرار شوی اوپه وار وار دامسئله واضح شوی چی زموږ اسلامی جهاد نه خودچا دمرستو پر بنیاد پیل شوی اونه دخپل دوام « تضمین » دنورو په مرستو پوری تړلی بولی !

دافغانستان دمسلمان ولس پاڅون اومقاومت دروسی سره استعمار دڅوبی پته او ملحدو مزدورانو پرضد پداسی

اووم مخ

چې ومې لیدل نوومې لیکل

محمد سرور قاطع

جهادي سنګرونوته دسفر لنډ راپور تاژ :

لومړۍ برخه :

چهارشنبې ورځ داسد نهمه نیټه دماسپښین لوه بجی وی چی دحضرت عمر فاروق (رض) «ژوړ» غونډ له رئیس ارکان محترم ډګروال سید نعیم شاه سره یو ځای له غنډ څخه په داسی حال کی چی دلر پلوشی دتتو وریځو په لمنوکی کله پټیدی اوکله به یی خپلی زرینی وړانګی دغرونو په څوکو او لمنو باندی وغزولی دجهادی سنګرونو دلیدلو په نیت وخوځیدو.

زموږ دسپرلی موټر په هغو غونډیو اوتپو په لنډ نیغ شوی سړك چی دغښتلو اوپه دین مینو با شهامته مجاهدینو دافغانی غیرتی متوپه زور جهادی سنګرونو ته داکمالاتو کولو اودشهیدانواوټپیانو ډالیرلونی په منظور جوړشوی دی ، دسفر لاره خپله کړه دبړی لوړو تپو ته چی په څو سوه متروکی تری دلوړو غرونو دغرور څخه ډکی څوکی لیدل کیدی هسك شوو له دی ځایه اودحرکت له نقطی څخه ددغه ستونزوری لاری په دواړو خواوو دغونډیو په لمنو اودسړك په څنګ څنګ کی ددښمن دالوتکو په واسطه ځای ځای او حتی دځولویشتو په فاصله کی وژونکی ، سوزونکی او زهری بمونه غورځول شوی وو چی دغرونو،غونډیو اودرو طبعی ښکلا ته یی په څرګند ډول نه جبیره کیدونکی زیان وراړولی دی ، موږ لا دبمونو په واسطه دړوړو کندو او تخریب شوی چاپیریال له خیال اوسوچ څخه نه وو فارغ چی دهغه مجاهد ، چی وظیفوی راه بلد په توګه زموږ دسفر ملګری ؤ دی خبری چی معلم صاحب ! دی ځای ته توده چینه وایی ، زما دفکرونواوسوچونولړی وشکوله اوله دی سره سم زما پام هغی مزی ته واوښت چی ددهتنه مجاهدین یی ترڅنګ ولاړوو اوچی پوښتنه می وکړه ملګری مجاهد می راته وویل چی دالومړی پاټك دی اوداهغه مجاهدین دی چی دخوست دمشترکی جهادی شورالخوا دلاری امنیت اوڅارنی لپاره ټاکل شوی دی، پس له هغی چی څارونکو مجاهدینو زموږ دسپرلی موټر له نظره تیر کړ مزی پرانیستل شواوموټر دخوست مرکز په لور حرکت وکړ له کند او کپرو نه تیریده اودخوست ښار ته یی لاره لنډوله.مخکی یوبل پاټك راغی هلته بیا دشورا له خوا لاری څارونکو دمجاهدینو ګروپ دیو مزی تر ینځه میاشتی دمخه یی دغلته دروسانو دمزدور رژیم دالحاد اوفساد وروستی ځالی ونړولی ، اودلوی خدای (ج) په مرسته په یوه واحده قومانده یی په ډیروکمو مادی امکاناتو دښمن څخه په غنیمت نیولی ټانکونه دجهادی مرکزونو په انګړ اودودانیو په مخکی ولاړوو ، دښارپه ختیځ اړخ کی می هوایی ډګر ته هم پام شو چی اوس ددښمن دالوتکو په ادیره بدل شوی ؤ اودهغو

څنګ ولاړ اودموټر دکتلو وروسته یی دتللو اجازه راکړه تنکی مازدیګر ؤچی دخوست ښار ته ورداخل شوو .

دخوست ښارته په ورننوتلو می فکر دډیری نژدی ماضی په لورلاړ اوله دی سره سره می سترګوته دمجاهدینو هغه اتلوال مقاومت او ویاړلی کارنامی ودریدی چی څلور ددین اووطن دښمنانو ته چی هرډول وسلی اووسیلی یی په واك کی وی داسی شرمیدلی ماتی ورکړه چی تراوسه یی زموږ دجهاد په تاریخ کی ساری نه لیدل کیږی ، ځای په ځای می پوځی اودولتی تاسیساتو کی دمجاهدینو مرکزونه اوپه هغی کی ډلی ، ډلی مجاهدین لیدل اوله لس ګونو الوتکو جسدونه پکی پراته دی چی مجاهدینو دپورته کیدو یا ښکته کیدو په وخت ویشتلی دی وروسته بیا دپنګه ویشتمی فرقی انګړاوقوماندانی ته ورننوتو چی څه موده مخه پکی دملحد مزدور رژیم دقوماندان په شمول ملحدو اجیرو پوځیانو اوجبرًا عسکری ته سوق شویو عسکرو دمجاهدینو تر محاصری لاندی ډیر په ویره ذلیل اوتمیټ ژوند تیراوه اواوس پکی تر فتحی وروسته دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی دشهید سلمانشاه دغنډ دنومیالی قوماندان الحاج خلیل الرحمن دمیړنیو مجاهدینو مرکز دی ، اوپه دغه ځای کی دسیمی دامنیت دساتنی اونورو جهادی چارو دپرمخبیولو لپاره له ویاړه ډکی شپی ورځی تیروی .

همدارنګه موږ دنومیالی قوماندان الحاج محمد ابراهیم تر قوماندانی لاندی دحضرت عمر فاروق (رض) دمیړنیو مجاهدینو یو مرکز ته ورغلو ، په دغه مرکز کی فیروز قوماندان له خپلو مجاهدینو سره یو ځای دسیمی دامنیت دټینګښت اونورو جهادی چارو داجرا اوپرمخبیولو لپاره اوسی ، ماچی په دغه مرکز کی دمجاهدینوکومی لوړی روحیی اوقوی عزم احساس وکړ هغه زه په تمامه معنی دقلم په ژبه نشم انځورولی اوله دی نه می داسی وانګیرله چی تر وروستی فتحی پوری به انشاالله په همداسی لوړه روحیه ددین او وطن دښمنانو مقابله کوی ، دټولو په خیرو کی دایثار اوقربانی نښی له ورایه ښکاریدی. « نوربیا »

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا ، کام ، خاد ، واد - تشکیلات ، فعالیتونه او جنایات

۱۹مه برخه

عبدالوکیل

دنظامی عمومی ریاست :-

دغه ریاست داردو ، څارندوی ، سرحدي ، خاص ګارد دقطعاتو اوجزوتامونو دمطمئن کنترول اوپه هغوی باندی دحاکمیت په خاطر دقول اردو څخه نیولی تر کندکونو اونوروڅانګو اوشعبو پورې خپل کارمندان په علنی ډول موظف کوي اودافسرانو اوعسکرو په منځ کې دمجاهدینو دطرفدارانو دپیژندګلوی اودرژیم ضد اعمالو دجلوګیری په خاطر، اجنتوري چارې سرته رسوي.

دولایتونو او یوشمیر مرکزي ریاستونو دمحافظ اودمزدور رژیم ضد فعالیتونو دله منځه وړلو په خاطر په خپل تشکیل کې وسله وال اوپراتیفي کنډکونه لري .

د ل ٤٥ عمومي مدیریت :

دغه عمومي مدیریت هم دټولو هغو ولایتونو په ښارګوټو کې کوم چې دکابل مزدور رژیم تر تسلط لاندې دي څانګې لري ، دنوموړي عمومي مدیریت اساسي دنده دهغو اطلاعاتو تحلیل اوتجزیه ده کوم چې دواد له مختلفو ریاستونو ، مدیریتونو اوڅانګو څخه ورته رالیږل کیږي کله چې داطلاع اهمیت اونوعیت تثبیت شو نوبیا یی دواد اړونده ریاستونو او مدیریتونو ته لیږي ترڅو هغوی داطلاع سره سم اجرات وکړي خو یو شمیر عاجل اویا ډیر محرم اومهم اطلاعات بی له ل ٤٥ څخه اړونده مراجعو ته انتقالیږي .

دترانسپورت مدیریت : دغه مدیریت دواد اړونده موټرونو ترمیم ،تخنیکي کنترول ، اودې ته ورته نورې چارې سرته رسوي خوکله چې دواد اړونده ډریورانو په واسطه سره دتیلو غلا اوپه چکونوکې جعل کاري زیاته شوه نو نوموړي مدیریت ته په ۱۳٦۷ هـ ش کال کې ترانسپورتي وسیلوته دډیزلو او پټرولو دویشلو دنده هم وسپارل شوه اما په واد پورې تړلي فرقې ، لواګانې اوغنډونه دخپلو جزوتامونو لپاره ګوښې ترانسپورتي آمریتونه لري .

خاص ګارد :

دغه نظامي ارګان چې پخپل تشکیل کې فرقې ، لواګانې اوغنډونه لري نسبت نورو نظامي قواو ته مدرنې وسلې لري اودروسانو اودډوی مزدورانو (خلقیانو خصوصاً پرچمیانو) نسبتاً اعتمادي اشخاص یې پکې راټول کړي دي .

دل ۳۵ عمومي مدیریت :

دغه عمومي مدیریت په مختلفو څانګو ویشل شوی دی اودمحمد ظاهرشاه له وختو راپه دې خوا داستخباراتو رسمي کارکوونکو اوهمدارنګه دریزد نټانو اواجنټانو شخصي اوکاري دوسیې دنوموړي مدیریت دارشیف په څانګه کې ساتل شوي دي په دې برسیره دټولو هغو اشخاصو سیاسي دوسیې چې نوموړي سیاسي متهمین ورڅخه خبرتیا لري اویا په پټ اومخفي ډول سره یعنې دډوی په غیاب کې جوړې شوې دي د ل ۳۵ په عمومي مدیریت کې ساتل کیږي اوکله چې کوم شخص غواړي باندنیو هیوادونو ته سفر وکړي ترهغو پورې پاسپورت نه ورکول کیږي ترڅو چې دنوموړي مدیریت موافقه یې نه وي ترلاسه کړي .

په ۱۳٦۸ هـ ش کال کې یو شمیر دوسیې خصوصاً هغه چې دهغوی له مخې دروسانو اودډوی مزدور رژیم جنایات په څرګند ډول سره ثابت کیدل دروسانو په واسطه له دغه مدیریت څخه وایستل شوې په نوموړي کال ددغه مدیریت روسي مشاورینو دځو ورځو په جریان کې دهغه موټر په ذریعه چې موټروان اوساتونکي یې هم روسان وو دکابل له شش درك څخه چې نوموړي مدیریت پکې موقعیت درلود ، دڅړو مکرویانو هغه بلاك ته انتقال کړلې په کوم کې چې روسان اوسیدل ، داسې ویل کیدل چې دغه دوسیې یې له هغه ځایه څخه روس ته نقل کړې داهم په یادولو ارزیږي چې روسي مشاورین په ډول ډول بڼو خپل اهداف اوامرونه دواد په کارکوونکو عملي کوي اوکله خو دواد له په اصطلاح امیرنیو څخه پرته په مستقیم ډول سره خپل امرونه تطبیق کوي .

د۱۳٦۸ هـ ش کال په اوایلو کې ددغه مدیریت روسي مشاور په داسې حال کې چې دنوموړي مدیریت عمومي مدیر یې ترشا ولاړ ؤ هغه کارمند ته بدرد وویل کوم چې دپغمان ولسوالی په امنیتي کمربند کې یې دیوې میاشتې له تیرولو څخه وروه وکړه نوموړي کارمند دخپل کلاشینکوف په واسطه سره روسي مشاور له منځه یووړاو وروسته یې دغه دواد غړې ونیوه اوروسانو له ځان سره بوتللو او ترننه پورې یې درك ورك شو .

دی ته ورته حادثه دامین دقدرت په وخت کې هغه وخت وشوه کله چې روسي مشاور په مستقیم ډول سره دامین نظامي قواوٌ ته امر ورکړ چې دغوربند ولسوالی مجاهدینو پرضد وجنګیږي خو هغه کندهاری عسکر چې ددغه روسي مشاور مخامخ ولاړ ؤ دعسکرو دلاین څخه راووت اودخپل کلاشینکوف په واسطه سره یې دروسي مشاور ټټر سوری سوری کړ دغه عسکر له نیول کیدو څخه وروسته روسانو له ځان سره بوت اوبیا یې ترهمدې دمه پورې چاته پته ونه لګیده.

په پنځم مخ کې

جهادي ادب

حق به اورم، حق به وینم، حق به غواړم
حق به وایم، حق به ستایم، حق به کړه کړم
حق مې دین دی، حق ائین دی، حق مې تلین دی
حق خو حق دی، حق منم، په حق به تله کړم

کریکې

لنډه کیسه

سید شهریار

پدی شپه هم دنورو شپو په څیر په سوچونو اوفکرونو کی ډوب ناست وم سربه می چی له زنګنونونه رااوچت کړ نو همغه شان به سپینه دڅورلسمی شپی سپوږمی دمنزل په لور رهی وه ګخپل ډیر ښایست به دومره غره وه چی خپلی مخی ته به یی هم نه کتل کله به چی په تورو وریځو کی ډوبه شوه نوګرده نړی به یی په تورو تیارو کی ډوبه کړه ماله ځانه سره ویل چی داسپوږمی ولی داسی کوی:

بس دی چی ددنیا خلك په تورو تیارو کی دسپینی رڼا په لټون پسی لالهانده ، یوی خوا اوبلی خواته څغلی راځغلی خو دځان سره فکر نکوی چی رڼا دهمده سره ده بل چیرته اودبل چاسره نده .

زه لاپدی فکر کی وم چی زما دغریب ګاونډی هغه چی داوږدی ناروغی په بستر پروت وُکوچنی بچی به یی ترډېرو خوا اوبلی خوا تاویدل خو ناروغۍ یی تری نشوه پورته کولی ځکه چی بی وسه وو ، غوږ می چی کیښود نو سوی سوی زګیروی می واوریده چی دشپی دسکوت فضا یی شیبه په شیبه څیری کوله مالا دحال معلومولو په باب کوم تدبیر له ځانه سره نه وُ نیولی چی دهغه دزګیرویو سره می دهغه دبچو دکریکو پیوستون هم تر غوږ شو دغه دربونکی کریکی به شیبه په شیبه زیاتیدی اوبیا خوداسی حال ته ورسیدی چی زما دګاونډی په کور کی یوه غوغا جوړه شوه اوس نو ماته پخپل کورنه ناستی خوند راکاوه اونه ولاړې ، موږ لاڅه چی دټولی کوڅی

اوسیدونکي دومره ناکراره شول چی هر چا پخپلو کورو کی رڼا ګانی ولګولی ، ویښ ټول شول خو دراوتو جرات یوه هم نه شو کولی ځکه پدی وختو کی راوتل دخپل ژوند نه لاس وینځل وُ موږ دهغه غریب رنځور سره هیڅ هم نه شو کولی ځکه موږ هریوه دخپل سرخطر لیده دخپل سر لاڅه چی دټولی کورنی ، ماچی په ډیر مهارت سره دخپل دیواله دهغه دکور پلو سرورښکاره کړ نو دوحشی دولت یو څو مزدوران می په نظر شول چی دمهربان غبرګ لاسونه یی تړلی اودبیرون پلو یی راکاږی حیران شوم چی په پښو کی یی دم له کومه راغی دهغه دپښو نه خو دلوو میاشتو ناروغی دم ویستی وُ خو پوه شوم چی دکنداغو دګذارونو په زوریی دهغه په پښو کی دم راوستی دی هغه دننګه انکار نشو کولی کدهم ددېری کمزورتیا نه یی پښی داسی ریږیدی لکه دخزان بادونه چی دونو زیړي پاڼی رپوی او غورځوی :

دمهربان دراښکنی سره دهغه ټول بچی راښکل کیده هریوه وریوری ځان کلك نښلولی وُ چیری یی پریښودو له یوی خوا یی هغه میرمن چی تراوسه پوری یی چا پلو نه وُ لیدلی خو اوس دیوځو بی دینو په منځ کی داسی سر توره ولاړه وه چی خپل ستراوړدی ته یی هیڅ پام نه وُ خوله یی په ژړا ورانه وه او په مخ یی داوښکو سیلابونه را روان وُ

هغه ظالمانو دوی له یوی مخی دټوپکو په کنداغو داسی ټکول لکه دجوارووږی! ټول یی دپلار دخوانه بلی خواته

په پنځم مخ کې

ادبی اصطلاحات

سید محي الدین « هاشمي »

آزاد شعر :

هغه شعر ته وایی چی دعروضی اوازونو اوقافیی تابع نه وی ، خو وزن او موسقیت ضرور لری.وایی چی دغه شعر په ابتدایی بڼه دنوولسمی پیړی په وروستیو کی په غرب کی رواج موندلی او دشلمی پیړی په لومړیو کی یی پوره وده او انکشاف کړی اودغسی دختیځوهیوادونو ژبو او ادبیاتو ته راغلی دی.آزاد شعر ته ځینی خلك سپین شعرهم وایی .

په پښتو ادب کی یی له څلویښت پنځوس کلونو راهیسی ویناوال لری ، دلته یی یوه نمونه وګورئ :

تاته می خط لیکلو
لامې لیکلی نه وُ
چی په کاغذ دپاسه
دوه مرغلرې
له دووسترګو نه راپریوتلې
ماويې بس دغه بس دی
دستادغه خط می تاته دغه شان درواستولو
وروسته مې سوچ کولو
چې ددې تش کاغذ په راز به پوه شی !

آهنګ :

دشعر له ضروری توکو څخه دی،پخوانیو ادیپوهانو آهنګ دشعر له عروضی اوازونو سره مترادف ګاڼه خو اوسنی ادب څیړونکی په دی عقیده دی چی که شعر عروضی اوازن ونلری هیڅ پروا نلری ، خو باید آهنګ او وزن حتمی ولری ځکه که داونلری ، هغی وینا ته شعر نه شو ویلای ، بلکه دنثر اطلاق پری کوو .

احساس :

احساس دشعر له عمده توکو څخه دی ، هر شعر باید احساس اوعاطفه ضرور ولري اوکه پکی احساس اوعاطفه او ژور تاثر نه وي لوستونکی اواوریدونکی له دغسی شعر نه خوند نه شی اخیستلای دیو لیکوال وینا

په پنځم مخ کی

داوښکو ارزانې

خادم

که غله او ارتزاقیات قیمته شي خو دفصل په راوتلو رفع کیږی که کالی او لباس قیمته شی نوبیا هم څه نه څه ګوزاره کیږی .

خلك وایي « بربنډ له لاری اوړي ، وږی نه اوړی »

که فیشنی شیان قیمته شی نو قیمته دی شی کنه « تجمل بیل شی دی او زندګی بیل شی دی » که اسعار قیمته شی نوبیو دولت په تصمیم یی علاج ممکن دی چی غیر ضروری اودویمه اودریمه درجه شیونه له استعماله وغورځوی .

که داټول شیونه په یوه سویه ارزانه شی دیو مملکت دپاره درفا اسایش وسایل لاس ته راځی اما اجتماعی سعادت او خوشبختی دغه وخت هم نه حاصلیږی ، دژوند سعادت اوخوښی دمادیاتو په زیاتوالی او ډیروالی دومره اړه نه لری لکه دضمیر په ازادۍ او دروح په خوشحالی پوری.په ژوند کی خطرناك اومدهش حال دادی چی

اوښکی ارزانه شی ویره ... اودرد موجود وی او دوانه وی په طب کی دهر درد ، خوږ ، پرهار او تپ علاج شته مګر نه دزړه درد اوزخم دزړه ددرد علاج پخپله دزړه درد دی اوبس داوښکو دارزانی علاج دپول اوپیسو دارزانی غوندی ندی چی داقتصاد کوم ماهر یی علاج وکولای شی ، اونه دزراعت متخصصان په دی کار پوهیږی .

بی دردی په یوقوم اوجامعه کی داسی یو مرض دی چی په علاج یی فقط پیغمبران پوه شوی دی .

ای خدایه ! موږ نه هغه زړونه واخله چی دمظلوم اوبی وزلی له سترګو څخه په عبث توئیدونکو مرغلرونه خوږیږی اوهغه لاس اوپښی اوژبه مه راکوه چی بی لاسو اوبی پښوته صدمه رسوی اوخلك ژړوی .

څه یم ؟

عبدالرحمن بابا

په ښه خوي دبدخواهانو بي پروا یم
په نرمي لکه اوبه داورسزایم
وهرچا ته پخپل شکل ښکاره ګندیږم
ائیني غوندي بي رویه بي ریایم
قناعت مي ترخرقي لاندي اطلس دی
پټ ددرست جهان پاچا ظاهرګدایم
دغنچي په څیر په سل ژبو خاموش یم
لکه بوي هسي په پټه خوله ګویا یم
هم په داسپینو جامو رامعلومیږم
لکه ابرهم ګوهر یم هم دریا یم
دراز عمرمي حاصل شو له راستیه
لکه سروه مدام سبز وتازه پایم
که چا لار دعاشقي وي ورکه کړي
زه « رحمان » دګمراهانو رهنما یم

دکتاب معرفي

س ، م ، د

دسنګر پیغام

دکتاب نوم : دسنګر پیغام
ویناوال : محمد یوسف ملاخیل
ټولونکی : عبدالهادی ملاخیل
خپرونکی : دجهاد نشراتی مرکز
دچاپ شمیره : (۱۰۰۰) ټوکه
دچاپ نیټه : ۱۳۷۰ هـ ش جوزا
مخونه : ۳۲۸=۱۲+۳۱۶

دسنګر پیغام دمحمد یوسف ملاخیل د اشعار و مجموعه ده چی په دی وروستیو وختونو کی په ډیره ښه قطع او صحافت دجهاد دنشراتی مرکز له خوا خپره شوی ده .

ترکتاب پیژندنی او فهرست وروسته دکتاب لومړنی دری مخونه دپسریزی ترسرلیك لاندی دافغانستان داسلامی حزب دمشر محترم مولوی صاحب خالص په عالمانه لیکنه ښکلی شوی چی په هغی کی یی په عامه توګه په شاعر او په خاصه توګه ددغی مجموعی دلیکوال دشعر فن ته یوه څغلنده کتنه

کړی ده ورپسی بیا په دریو مخونوکی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجبهاتو دفرهنګی ټولنی دمشر ښاغلی ننګیال لیکلی سریزی دکتاب مخونه ښکلی کړی دي او بیا دښاغلی موسی خان جلال زی سریزی دکتاب دری مخونه نیولی دی ، وروسته بیا دکتاب په پنځو مخونو کی دمقدمی ترسرلیك لاندی دښاغلی شمس الرحمن لیکنه راغلی چی په هغی کی یی داثر د وینا وال په شاعری او ژوند پیښو مفصله رڼا اچولی ده .

وروسته بیا دڅو خبری ترسرلیك لاندی ددی اثر دراټولونکی او خپرونکی ښاغلی عبدالهادی ملاخیل لیکنی چی په هغی کی یی د شاعر په شاعری او ددی مجموعی راټولونی او خپرونی پر موضوع کی څغلنده کتنه کړی ، دکتاب دری مخونه ښکلی کړی دی،

په پنځم مخ کې

په افغانستان کې دکې، جې، بې ...

حفظ اوامنیت :
دغه ریاست دگوند او دولت دعالي رتبه مامورینو دساتلو یعني دترور څخه دبچ کولو دندي سرته رسوي.
کله چي کوم عالي رتبه گوندي اودولتي مامورین په کومه غونډه کي برخه اخلي نو ددغه ریاست کارکوونکي په ملکي جامو کي دعالي رتبه مامور شاوخوا اشغالوي ، په دي وخت کي ظاهراً داسي څرگندیږي چي گني نوموړي مامور دوگړو منځ ته ورغلي اویو په بل باور لري خوپه واقعیت کي دعالي رتبه مامور څو متري فاصله دنوموړي ریاست په کار کوونکو ډکه شوي وي .
دتفتیش اوکنترول ریاست :
دغه ریاست د«واد » اړونده ریاستونو اوارگانونو دکړو وړو تفتیش اوکنترول وظایف سرته رسوي .
داوپراتیفي تخنیك مدیریت :
دغه مدیریت دمزدور رژیم ضد کشف شویوءتراشتباه لاندي اشخاصو اوبهرنیو سیاسي میلمنو په استوگنځایونو کي مخصوص تخنیکي الات په داسي ډول نصب کوي چي بل څوك يي دهغوي موجودیت نشي احساس کولاي ، په دي صورت کي دپه نظر کي نیول شوي شخص خبري ثبت کوي اویا دهغه اعمال اوکړه وړه دتلویزیون په بڼه گوري .
دشفر عمومي مدیریت :
دغه مدیریت دکابل ښار خصوصاً ولایتونو او مرکز ترمنځ دشفر په واسطه دهغو اطلاعاتو اوحوادثو راپورونه انتقالوي چي په شفاهي اویا دپستي له لاري امکان نلري اویا يي لازم نه بولي .
«واد » دغه دافغانستان دمسلمان ولس دزجر وژلو اوپه هغوي کي دشیطاني کړو وړو سرته رسولو دستگاه دترور اوانسان وژني لپاره مخصوص تشکیلات لري اودهغوي په پټ ساتلو کي ډېر احتیاط څخه کار اخلي .

دسنگر پیغام...

اوورپسی دکتاب دپاڼو دشمیر په (۱۹) مخ کی تر بسم الله الرحمن الرحیم وروسته (حمد) تر سرلیك لاندی د شاعر کلام پیل کیږی او په (۱۰٦) قطعی هغه جهادی،انتباهی او انتقادی شعرونه راغلی چی شاعر پکی په داسی خوږه او ساده اولسی ژبه چی دهر چا لپاره دپوهیدلی وړ ده ، دزړه دردونه اوزموږ دمومن ملت هیلی ارمانونه بیان کړی دي ، کله یی پکی دجهاد فضلیتونه بیان کړی او چیرته یی پکی دمجاهدینو ویاړمنی جهادی کارنامی انځور کړی ، کله یی بیا دسنگر داتلو شهیدانو په شهادت مرثیی ویلی او ورسره ورسره په ډېره ساده خورنگینه او خوږه ژبه په انتقادی توگه دخلکو پاملرنه خپلونو اقصو او نیمگړتیاوو ته اړولی ده .
لکه چی دکتاب له نامه څخه څرگندیږی دشاعر وینا او کلام په رښتیا هم دسنگر پیغامونه او نوخت اوحالاتو غوښتنی دي ، چی دشعر په ژبه انځور شوی ، او ټولنی ته وړاندی شوی دي .
ترکومه چی ددغی مجموعی اودهغه وینا وال په هکله زما دمطالعی اوله هغی څخه دبرداشت پوری اړه لری ، زه یی شاعری یوه سوچه ولسی شاعری گڼم او شاعر راته دولس دهیلو او غوښتنو دیو ترجمان په توگه دولس اوخلکو دغوښتنو ارمانونو او ویاړونو په بیانولو اوڅرگندولو کی تر ډیره حده بریالی ښکاری ، اوکه څوك په ولسی شاعری کی پوره مطالعه ولری او په ټولو اضافو او اوازونو یی ونه پوهیږی ښایی دملاخیل صاحب داشعارو لوستنه ورته درنه پرېوځی او پرهغی دڅه ناڅه سکته گی او نیمگړتیا حکم وکړی ، خو څوك چی په ولسی شاعری کی مطالعه لری اوپرټولو خوائیو پوهیږی دملاخیل صیب دشاعری په پوره مزایاو ډیرښه پوهیدای شی .
په پای کی زه په داسی حال کی چی ددی اثر خپریدنه زموږ دجهادی ادب په پانگه یوه کتموره اضافه بولم ، ویناوال ئ ټولوونکی اوخپرونکی ته یی دچاپ اوخپریدو مبارکی وایم ، دلوی خدای (ج) په دربار کی ورته لابریالیتوبونه غواړم ، دادب مینه وال لوستونکی یی مطالعی ته رابولم .
والسلام .

ادبي اصطلاحات...

ده چی وایی :
«دشعر اصلی وظیفه داده چی مقابل لوری ته احساس ورانتقال کړی.»
ادبی انځور :
په ادبی ژبه او هنری توگه دیوی څیړنی انځوروني ته ادبی انځور ویل کیږی په اردو ژبه کی دغی اصطلاح ته حاکه اودری کی ورته تصور ادبی وایی .
داټکی باید په یاد ولرو چی ادبی انځور له ادبی تذکره لیکنی سره توپیر لری په دی مفهوم چی په ادبی تذکره کی هغه کیږی دیو لیکوال یا شاعر دژوند پیښو هر اړخیزه څیړنه اوسپړنه وشی خو په ادبی انځور کی ژوند پیښی په ضمنی توگه راځی .
دغه ادبی اصطلاح په پښتو ادب کی په همدغه شلمه پیړی کی رواج موندلی اوس زیات شمیر لیکوال الری.
ادبی ټوټه (پارچه):
منثورو ادبی لیکنو ته دپښتوادب پوهانو دادبی ټوټی اصطلاح غوره کړی ځنی خلك دغه اصطلاح په منثور شعر هم اطلاق کوی ، ادبی ټوټه له تکل سره شباهت لری خو دواړه بیل بیل ژانرونه دي .توپیریی په دی کی دی چی په تکل کی دلیکنی روحیه په حکایتی بڼه وی اومهم اجتماعی فلسفی مسایل په تصویری اونسبتاً تحمیلی بڼه وړاندی کوی خو ادبی ټوټه بیا دا خاصیت نه لری اولیکوال په هغه کی یو لړ فنی اوادبی باریکی نکتی په پام کی نیسی .
په پښتو ژبه کی په شلمه پیړی کی رواج موندلی دی .
ادبی جریان :
ادبی جریان په یوه ټاکلی دوره کی دهغو لیکوالو لیکنی له سیکونو څخه تشکلیږی چی په فکری هنری ابداعی مسایلو کی سره ورته والی او نږدیوالی لری،ادبی جریان له ادبی سبك سره نږدی اړیکی لری ، خو دادبی سبك په پرتله ادبی جریان یوه پیچلی پدیده ده ، په دی معنا چی ادبی جریان دبیلابیلو سبکونو له امتزاج څخه رامنځ ته شوی وی .
ادبی جریان دادبیاتو دبشپړتیا په بهیر کی دهغه پړاو زیږنده ده چی دژبې ادبیات پخوالی ته رسیدلی وی .
دادبی جریان رامنځ ته کیدل دټولنی په ټاکلو تاریخی شرایطو پوری اړه لری اودټولنی دیوی مشخصی ډلی دکټو او ځانگړوتمایلاتو نمایندگی کوی اودتاریخ په اوږدو کی دغسی ادبی جریانونه همیشه دټولنی دبیلابیلو ډلو دهیلو ، غوښتنواو ارمانونودتبلیغ اوترویج لپاره کارول شوی دی .
ادبی راپورتاژ:
ادبی راپور تاژ دادبپوهانو له خوا دهنری ادب دیو ځانگړی ادبی صنف یاژانر په توگه پیژندل شوی.
ادبی راپور تاژ له سفرنامی سره ورته والی لری ، خو دواړه بیل بیل ژانرونه دی ځکه چی په سفر نامه کی دسفرټولی پیښی او حالات راځی ، خو په ادبی راپور تاژ کی دلیدنو کتنو احساس لیکل کیږی ، ادبی راپور تاژ له عادی راپورتاژ سره هم توپیر لری اوهغه داچی په عادی راپور تاژ کی پیښی انځوریږی ، خو په ادبی راپور تاژ کی واقعی په هنری ژبه دلیکوال دتخیل په ملتیا تعبیراو تفسیر کیږی ، په پښتو ژبه کی یی دشلمی پیړۍ په لومړی نیمایی کی رواج موندلی دی .

کړیکې...

ټیل وهل او مهربان غریب یی دکنداغونو په گذاروکی دبیرون خواته کش کړ.
روان مخکی ؤ خو مخ یی شاته رااړولی ؤ او دواړه سترگی یی له اوښکو ډکی وی شونډی یی ریږدیدی له خولی یی غږ نه راخوت د دروازی نه په وتو کی یی فقط همدومره وویل چی څه وکړم دابه د خدای پاك رضا وی ، دعا راته کوی په خدای (ج) موسپارم او بیا بهر کش شوی ؤ دکوځی په تپه تیاره کی دموټرونو گروپونه ولگیدل او په یوشنگ روان شول دکوځی تر اخری سره پوری یی میرمنی او بچو ورپسی منډی وهلی او لاتر کومه ځایه به ورپسی تلل چی هلته ولاړو عسکرو پری را غږم وهل او بیرته یی دکور پلوراوشړل له همدغی شپی څخه وروسته بیا تر څو پوری به می چی لیدل له دوی څخه ژړا ونه وته ژړا یی دټول عمر ملگری شوه دخوراك او څښاك ځای یی هم ژړا ونیو او څنگه به یی نه نیوه څه به یی خوړل ؟اخر څه به یی کول ؟ وخت به یی په څه تیراوه ! یوه شپه وه تیره شوه په موږ هم او په هغو هم په ټوله شپه کی هغوی ته چا په سر لاس را نښکود او نه ورته چا تسلی ورکړه او نه چا ورکولای شوه ځکه چی څلور پنځه عسکر یی دکور څخه یوه خوا او بله خوا تاویدل او دایی معلومول غوښتل چی دچا ، چا سره یی ارتباط دی او پدغه وخت کی ورسره څوك تماس نیسی . خو اوس خلك ډیر هوښیار شوی ؤ هیچاداکارنشو کولای او نه یی کاوه . زه چی په کوم فکرکی وم شاید دکوځی هراوسیدونکی به په دی فکرکی ؤ چی دانویمه میاشت وه چی دکوره هم نه ؤ خوځیدلی دی خو یوبی سواده سړی ؤ دده له دی کارو سره څه کارده خو ټول عمر کراچی راښکلی وه دده دمرض غټه وجه خو همداکراچی وه چی تل به یی پکی ځان نښلولی ؤ او په لوړ و او ژورو به یی داس په شان راښکله .
شپه وه تیره شوه . له ډیری ویری هیچا هم له دغو مظلومانو نه پوښتنه نه شوه کولی چی ولی ؟ او په څه ؟ زماسره خو یی دیوال شریك ؤ او بیا دیوه سړی په کورونو کی اوسیدو نو ځکه دکیسی دجریان څخه خبر شوم سهار دوخته یی کړه دکور څخه گذاره شوه اودکور دخاوند لخوا ورسره د انسانیت نه بهر وضعه وشوه دسانسوراوژړاگانو په راپاروُنکو کړیکو کی فقط همدومره خبر شوم چی تیره ورځ دکوردخاوند هغه کشر زوی چی په خاد کی دیو لوړ مقام خاوند دی دمهربان کور ته راغلی ؤ له مهربان څخه یی غوښتنه کړی وه چی باید له موږ سره همکاری وکړی نیستی او ناروغی دواړه به دی په یوه وخت غوځی شی او ډېر څه خاوند به شی اولاد ته دی وگوره په څه حال دی ته باید دلوی ښه تربیه وکړی مهربان په ډیره حیرانی ورته ویلی ؤ چی زه یوبی سواده سړی یم زه به له تاسی سره څه همکاری وکړم زما په وس څه پوره دی اوبل زه له ځایه خوزیدی نه شم اوته رانه همکاری غواړی ښه وایه دڅه همکاری ؟
ته یی کولای شی په وس دی پوره ده اوښه پوره ده ستاداښځه اوکوچنی یی هم کولی شی چی هر څنگه وی کوی به یی ته باید په کوڅه او ناحیه کی موږ ته هغه خلك په گوته کړی کوم چی ددولت بد وایی اویاپه گوند اویا گوندیانو باندی ناوړه تورونه لگوی او ... مهربان ورته ویلی و:نه : هیچری هم نه : زه داسی نه شم کولی زه دچاپه کور کی ژړاگانی نشم جوړولی ځکه زه یو غریب اوبی سواده سړی یم زما ددی کارو سره څه کار داخبره نه وه دتوپ ډزو فقط همدومره می ورته ویلی ؤ چی ښه ! ښه دی وکړه ډیر زربه یی له خوند څخه خبرشی — که ته دچا په کور کی ژړاگانی نه شی جوړولی نو له موږ څخه خو چاوړی نه دی هغه څه به دربانډی وکم چی لیدلی دی نه وی رښتیا هم چی همغه څه یی پری وکړه چی لیدلی یی نه ؤ، خدایزده چی څه یی کړ ځکه بیا یی هیڅوك هم دمرگ اوژوند له حاله خبرنه شول.

په پغمان کی دمجاهدینو بریالی عملیات

دپغمان له ولسوالی نه میډیاته رپوټ ورکړل شوی ، چی مجاهدینو داسد په ۱۷ مه نیټه په نوموړی ولسوالی سره نژدی دارغندی علیا په سیمه کی دتوروتی په پوستو باندی یوتعرضی برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم یوه ستراتیژیکه پوسته فتح اودپوستی یو شمیر پرسونل یی وژلی دی .
همدارنگه دپغمان ولسوالی څخه دیوه بل خبر له مخی مجاهدینو داسد په ۱۰ مه نیټه ددرنو وسلو په برید سره دارغندی علیا په سیمه کی دچوکی ارغندی په پوسته برید وکړ، دری عرادی زرهی ټانکونه یی تخریب او ۲۰ تنه ملیشه یی وژلی دی .

دافغانستان دجگړې...

دهیواد په گوټ گوټ کی دمجاهدینو بریالی عملیات او ویاړلی فتوحات کولای شی دلویدیزو مطبوعاتو ددی زهرجنو تبلیغاتو لپاره درد ښه ځواب وی .
دافغانستان دجگړی دپای نژدی والی اولری والی په کابل کی دروسانو دلاس پوځی او مزدور رژیم ، چی زموږ په هیواد کی دخوارلس کلن تپل شوی او ورانوونکی جنگ عامل او مجرم دی دله منځه وړلو په نژدیوالی اولری والی اودهغی په ځای دټولو مسلمانو افغانانو په گډون دیوه قوی اودولس دنماینده حکومت په منځ ته راتلو پوری اړه لری ، نه دبهرنیو مرستو په دوام یاپای ته رسیدو پوری.

مجاهدین به هیڅ کله داسي طرحه ونه مني ...

ځواب : زما په نظر دغه طرحه اودا ټول کوششونه دافغانستان دمجاهدینو ددولس کلن جهاد دنتایجو دخنثی کولو ، اودهغوی دکوششونو دبربادولو لپاره یوه توطئه ده ، او داټول طرحی نشی کولی دافغانستان قضیه حل کړی ، دملل متحد ددي طرحی په ترڅ کی دری داسی مواد راغلی چی دهغی منل دامعنی لری چی مجاهدینو ددولسو کلونو په ترڅ کی چی څه کړی ، څومره جهادیی چی کړی ، داهسی بی فایدی اوبی نتیجی عمل ؤ ، که مجاهدینو دغه مادی اودغه ټول پیشنهادونه دانقلاب په پیل کی منلی وای ، نو دومره مرګ ژوبله به هم نه وه شوی ، پدی طرحه کی ډیر اصرار پدی دی چی افغانان باید یو پراخ بنسټه یا وسیع البنیاده حکومت جوړ کړی ، دوسیع البنیاده حکومت معنی داده چی خلقی ، پرچمی ، کافر او مسلمان ټول په یوه حکومت کی ګډون وکړی پداسی حال کی چی دخلقیانو او پرچمیانو سره یو ځای حکومت جوړول یادیوه بل بی طرفه حکومت په ترڅ کی دهغوی په اقتدار کی پاتی کیدل دمجاهدینو لپاره په هیڅ شان دمنلو وړ نه دی که مجاهدینو دولس دیارلس کاله مخکی دامنلی وای نو اوس به دومره جنګ اوقتل وقتال نه راتلل ، ولی مجاهدینو داسلام دسپیڅلی عقیدی له مخی دانشوای منلای چی دملحدینو سره یو ځای ګډ حکومت جوړ کړی ، یادی دیوه بی طرفه حکومت تر سیوری لاندی ژوند وکړی او په همدی سبب داجنګ واقع شو ، نو اوس چی دغه ټول هلی ځلی کیږی ، ترڅو یو ګډ حکومت جوړ کړی که مجاهدین داومنی دابه دامعنی ولری چی دادولس کاله جګړه ، یو نیم ملیون شهیدان ، شپږ ملیونه مهاجر داټول هسی بی ځایه اوبی معنی وو ، مجاهدین هیڅ کله داسی طرحه نشی منلای چی دهغی دنه منلو په خاطر یی دومره جګړه کړی ده.

بل څه چی دملګرو ملتونو په طرحه کی راغلی هغه په دواړو اړخونو باندی دمرستو بندول دی ، اودایی دسیاسی حل لپاره یو اساسی شرط ګرځولی ، همدارنګه پدی ټینګار شوی چی جنګ باید بند شی ، ددی دواړو معنی داده چی پدی دولس کلن جنګ کی دجنګ مجرم نه دی معلوم ددی معنی خویا داده چی دواړه طرفه دجنګ مجرمین دی یاخو هسی په سهوه او خطا سره داجنګ واقع شوی ، او دواړه طرفه مجرم ندي !! دجنګ اصلی مجرم او مرتکب ندی معلوم ، داسی چی جنګ باید ودرول شی ، اوپه دواړو لوریو باندی دی مرستی بندی شی ، پدی هکله موږ دسرتاسری شورا قوماندانانو مخکی هم اواوس هم ، څه په رسمی ټول اوڅه په شخصی ټول څو ، څو ځله داخبره کړی ده چی

> زه ویلاي شم چي دغه جنګونه اوعملیات تقریباً سل په سلو کي هغه جنګونه دي چي دقوماندانانو شورا دپروګرام اوفیصلي مطابق پیل شوي اونتیجه یي ورکړي ده

ملګری ملتونه اودافغانانو دوست هیوادونه ، همدارنګه اسلامی هیوادونه تر هغه پوری چی نجیب اودهغه ملګری دجنګی جنایتکارانو په توګه ونه پیژنی اوټول داخبره تائید نکړی چی دنجیب حکومت غیر قانونی دی ، اودجنګ عاملین اودیو نیم ملیون شهیدانو اوشپږ ملیونو مهاجرو (پنځه ملیونه بهرنیو هیوادوته اویو ملیون په داخل دافغانستان کی) اوددی کونډو ، یتیمانو ،اودافغانستان دورانوالی ، دروسانو دراوستلو سبب اوعاملین نجیب اودهغه ملګری دي ، ترڅو دغه خبری قانونی اورسمی تثبیت شوی نه وی اودوی منلی نه وی تر هغه وخته پوری به نه مجاهدین جنګ ودروی ، نه به پدی خبره موافقه وکړی چی په دواړو لوریو دی مرسته بنده شی ، که ملل متحد یانور هیوادونه دی کار ته اقدام وکړی دابه دهغوی ظلم وی چی له مجاهدینو او افغان ولس سره یی کوی او ظالم او مظلوم دواړو ته په یو شان ګوری زما په نظر چی کله نجیب ، اودهغه مزدور رژیم دجنګ اوبربادی دعاملینو اومجرمینو په حیث وپیژندل شی بیا سیاسی حل په خپله راغلی دی ، کله چی هغوی دصحنی څخه ووزی ، بیا دجنګ متوقف کول دمرستو بند ښت ، اودملحد نجیب اودهغه له ملحدی ډلی څخه پرته دټولو مسلمانو افغانی اقشارو اوطبقاتو څخه یو غټ او قوی اسلامی حکومت جوړول اودمجاهدینو کار دی .

پوښتنه :دمخکنیو ځرګندونو له مخی داسی اټکل کیده چی دقوماندانانو شورا دریمه سرتاسری غونډه به دروان کال په اوړی کی جوړیږی ، ولی تراوسه دغه غونډه نده جوړه شوی ، ستاسی په نظر ددی غونډی دځنډیدو علتونه څه ؤ؟

ځواب : ددی غونډی دځنډیدو مهم علت دادی چی قوماندانانو دسرتاسری شورا په هغه مقدماتی غونډه کی چی په شاه سلیم کی دایره شوی وه په دی غونډه کی څوهدفونه په ګوته شوی ووچی تراوسه پوری ټول سرته ندی رسیدلی پدی غونډه کی دخوست نیول او دخواجه غار ، زیباك نیول ؤ دسالنګ دلویی لاری وخت په وخت قطع کول ؤ دجلال آباد – کابل دلویی لاری قطع کول ؤ دکابل پر امنیتی پوستو باندی حملی وی ، د زابل نیول ؤ پر ګردیز ، غزنی ، او لوګر باندی دعملیاتو شروع کول ؤ چی دهغی څخه ځینی تر لاسه شوی دی او په ځینو باندی نوی عملیات شروع شوی ، نو زموږ فیصله داسی وه چی تر دریمی غونډی مخکی په دومه غونډه کی چی کومه استراتیژی ټاکل شوی ده ، باید دغه کم ترکمه (۸۰) یا(۹۰) په سلو کی موږ تطبیق کړو ، بیا به دریمه غونډه وشی ، موږ باید ددوهمی غونډی دټاکل شوی استراتیژی دتطبیق بشپړ راپور او نتیجه ، دریمی غونډی ته وړاندی کړو هلته موږ فیصله کړی وه چی خوست باید فتح شی ، خوست فتحه شو موږ ولیدل چی خواجه غار به نیسو ، هغه فتح شو ، زیباك به نیسو داونیول شو دسالنګ لاره به قطع کوو ، هغه قطع شوه ، دجلال اباد لاره قطع شوه ، دکابل امنیتی پوستی ونیول شوی او په ګردیز ، غزنی او کابل باندی عملیات پیل شول ، نو بیابه په دریمه غونډه کی دغه فعالیتونه ارزیابی کوو ، چی وروسته پرمختګ باید څرنګه وکړو اوله کومی ناحیی څخه یی وکړو. نو ددریمی غونډی دتأخیر یو لوی سبب همداؤ خو اوس الحمدلله تقریباً (۷۰) په سلو کی ددغه ستراتیژی نتیجه لاس ته راغلی او تطبیق شوی ده ، او کیدای شی په شلو ورځو او یا یوه میاشت کی چی ددریمی غونډی لپاره هلی ځلی کیږی، په دی موده کی هغه څه پاتی هدفونه چی تراوسه پوری لاس ته ندی راغلی ، هغه هم په لاس راشی دقوماندانانو دسرتاسری شورا ددریمی غونډی دتأخیر یو سبب داهم ؤ چی موږ ددی غونډی لپاره ، وخت داوړی موسم ټاکلی ؤ او دلته متاسفانه په اکثره ولایاتو کی دژمی په موسم کی جنګ په آزاده طریقه نه کیږی او نه لدی ځایه مرستی ورسیدلای شی دلته دغونډ ی لپاره دټاکل شوی وخت سره سم ، دمجاهدینو اکمالات خپلو ځایونو ته ورسیدل ، او مجاهدینو په پراخه پیمانه عملیات پیل کړل ، اوس یوی خواته دشورا وخت رانژدی دی ، او بل لوری ته که دشورا غونډه دایریږی نو حتماً باید ددی جبهو ستر قوماندانان چی هلته دجنګو نو قومانده په لاس کی لری دا باید د شورا لپاره دیوی مودی لپاره راووزی ، نو ددی لپاره چی هم دغه غونډه نه وی ځنډیدلی او بل لوری ته ددغه قوماندانانو دجنګ پروګرام هم خطانشی بیولړ کوششونه روان دی پدی باندی غور او مذاکره روانه ده ، ځینی سیموته میئاتونه تللی دی ، او ځینی میئاتونه دی ته تیار دی چی هلته لاړشی ، ددغه قوماندانانو سره چی هم دشورا غړی دي او هم دجنګ قومانده په لاس لری وګوری او دوی ته داسی زمینه برابره کړی چی هم جنګ توقف ونکړی او دلته شورا هم پاتی نشی نو کیدای شی چی انشاالله ژرترژره پداسی فرصت کی دغه غونډه جوړه شی .

پوښتنه :- پدی وروستیو وختونو کی دهیواد په بیلابیلو برخو کی لکه څرنګه چی تاسی هم اشاره وکړه مجاهدینو بولړبریالی عملیات ترسره کړی ، په تیره بیا دهیواد په شمالی او ختیزو سیمو کی ، ستاسی په نظر پدی فتوحاتو او عملیاتو کی دقوماندانانو دشورا دپریکړو، او فعالیتونو څومره نقش او رول موجود دی ؟

ځواب:- ماپه خپلو مخکنیو ځوابونو کی هم اشاره وکړه ، په هغه وخت کی هم چی لاددی جنګونو هیڅ اثار نه ؤ ، موږ ددی اعلان کړی ؤ چی پدی ځایونو باندی موږ جنګ شروع کوو ، او دغه ځایونه به فتحه کوو ، بیا دهماغه اعلانونو مطابق په هغو ځایونو کی جنګ شروع شو ، لاری قطع شوی کوم ځایونه چی موښودلی ؤ چی هلته به عملیات کوو هلته عملیات وشول کوم ځایونه موچی ښودلی ؤ، چی هلته به لاربندوو او محاصره کوو به یی هغه محاصره شول ، نولدی امله زه ویلای شم چی داجنګونه تقریباً ۱۰۰ په سلو کی هغه جنګونه د ی چی دقوماندانانو شورا دپروګرام او فیصلی مطابق پیل شوی او ښه نتیجه یی ورکړی ده .

جهادهنداره :- محترم حقانی صاحب دمرکی په پای کی که مهربانی وکړی او دجهادهنداری درنو لوستونکو ته او همدارنګه دافغانستان

> **زما په نظر کله چي نجيب اودهغه مزدور رژيم دجنګ اوبربادي دعاملينو اومجرمينو په حيث وپيژندل شي بيا سياسي حل په خپله راغلي دي**

مسلمان او مجاهد ولس ته خپل پیغام ووایاست ؟

الحاج حقانی :- دافغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته زما پیغام دادی چی دوی دی دجهاد دمودی له اوږدوالی څخه تشویش نه کوی دادی نه وایی چی دجهاد موده اوږده شوه او په افغانستان کی کامله فتحه ژر رانغله لدی خبری څخه باید دوی ستړی نشی او له صبر او استقامت څخه دی کار و اخلی ، تر اوسه پوری چی دوی کومی لویی فتحی کړی ، او کومی لویی قهرمانی یی چی ترسره کړی دایی ټولی دصبر په نتیجه کی ترلاسه کړی ، دافغانستان بشپړ آزادول که ترڅو ا رلس کلونو پوری وځنډیدل ، نو دروس غوندی لوی قوت ته ماتی ورکول دهغوی دملحدو مزدورانو له وجود څخه دوطن دزیاتی برخی پاکول باندی داکلونه تیریدل اوږده موده نه ده ، باید دوی پدی قانع شی چی دادعقل او نقل دواړو له مخی دمنلو وړ دی تر څو مجاهدین دومره موده تیره کړی چی دوی خپل وطن دداسی یو لوی قوت دظلم او تعدی نه پاك کړی ، ځکه پیغمبر (ص) جزیرة العرب دیهودو او مشرکینو دظلم څخه په لسو کلونو کی پاکه کړه .

دعام ذهنیت له مخی خوداسی فکر کیږی چی موږ ګناهګار شوی یو ځکه پر موږ داستونزی ، مشکلات او عذابونه راغلل ، خو خبره داسی نه ده خدای (ج) پخپل ټول مخلوق کی دوی له دغه ستر ازمیښت نه بریالی راوایستل او ویاړونه یی ورپه برخه کړل نو جهاد دخدای فضل،کرم ،اعزاز، او ویاړدی اودا خدای (ج) دخپلو هغو بندګانو او قومونو په برخه کوی چی هغه ورته نږدی او عزتمن وی او په هغوی کی هغه ټول خصایل داسی وی چی دوی ددی ستونزو دزغملو لپاره صبر او استقامت لری او بریالی تری وتلای شی.جهاد یو نعمت دی نعمت چی څومره دومداره وی ، سړی ورته خوشحالیږی نو مطلب می داؤ چی افغانان باید پدی خبره وپوهیږی چی دغه جهاد د الله (ج) له طرفه موږ ته نعمت دی،یو کرامت او اعزاز دی ، نوموږ باید ددی په اوږد والی باندی خفه نشو.زه له لوستونکو څخه هیله لرم چی دغه جهاد چی څومره اوږدیږی دادوی دځان لپاره عذاب ونه بولی او دادخدای له طرفه یو کرامت او عزت وګڼی.وآخر دعوانا آن الحمدالله رب العا لمین .

دجهاد فلسفه:

دجهاد اوجګړي ترمنځ توپير

مولانا عبدالمجيد

جهاد : دباطل پر ضد دحق دهغه قيام او اقدام نوم دی چی هدف یی اعلای کلمة الله دکفر او الحاد دمنځه وړل دی نورمادی او غیر شرعی ارمانونه پکی اول او بالذات مرادنه وی . دقران او شریعت دتحقق لپاره پیل شوی وی دقران او شریعت دقوانینو سره سم جریان ولری چه ۱صلی او اخرنی هدف یی دقران او دین حاکم ګرځول وی . هیڅ پول مادی ، شخصی ، وطنی ، ملی او اجتماعی ، امکانات پکی په نظر کی نیول شوی نه وی . بلکه خاص الخاص د خدای (ج) درضا او خوښی لپاره وی یعنی په اول نیت او قصد سره یواځی د الله (ج) رضا په نظر کی نیول شوی وی که بیاورسره نور شیان لکه غنیمت ، قدرت، ځمکی مال مادی وسایل .... په لاس راځی . دابه د مقصود سره اړوند راغلی وی . که نه اول به دغنیمت ، افتخار ، مال متاع قدرت ، .... په نیت نه پیل کیږی که چیری دمادی امکاناتو ، مشهور تیا ، قدرت ، ملکیت ، تعصب زړورتیا .... لپاره پیل شوی وی بیاورته جهاد نه ویل کیږی . ځکه کوم وخت چی د باری تعالی رضا پکی فوت شوه بیا جهاد له دی سببه جهاد نه پاتی کیږی چی جهاد عبادت دی او دعبادت اصلی مقصد دمعبود خوښی لاس

ته راوړل دی عبادت هغه شی دی کوم چی معبود تړاکئی . یعنی اصل دعبادت د آمر (الله) دحکم پیروی کول دی کله چی پیروی ماته شوه دآمر څخه بغاوت وشو بیا عبادت په معصیت باندی بدلیږی او معصیت ته عبادت ویل شرعاًاو عقلاً دبیدقوفی او حماقت معنی لری دنړی غیر مسلمان وګړی دجهاد او جنګ تر منځ توپیر نشی کولی ځکه ددی استعداد نلری او دنده یی هم نه ده خو کله ناکله داسی پیښیږی چی ځینی بی علمه او ناپوهه مسلمانان هم جهاد او شخړه عین شی بولی ځکه چی دوی دخپل دین دعلم او کلتور نه لیری پاتی شوی له دی امله دوی سره دجهاداو جګړی د ظاهر ی او باطنی انفکاك استعدادی قوه وجودنلری نو دوی اکثره دنورو څخه کور کورانه ناروا تقلیدکوی .

دجهاد او جګړی دتوپیر په اړوند دغیر مسلمانو دریځ خوبیخی څرګند دی ځکه هغوی چی څومره پوهیږی هماغه پول دخپل درك سره سمه فیصله صادره وی هغوی مشاهده کوی چی یوله بله دوه جدا تولی خلك دی او تر منځه یی کشمکش دی دوی دغه کشمکش ته جنګ او جګړه وایی ځکه چی دجهاد داصالت څخه اطلاع نلری او

که اطلاع هم ولری د ضد یت له امله یی په حقیقت باندی داقرار څخه عاجز دی . پدی سبب د جهاد او جګړی تر منځ دتوپیر او تمیز کولونیرو ورسره نشته جهاد او جګړه هغه دوه متضاد کششو نه او حرکتونه دی چی د دواړو تر منځ جمع کول په یو وخت او یو ځای او یوجهت کی ممکن نه دی او متقابل لزوم یی هم حتمی دی په دی معنی چی یو اړخ ته به جنګ وی او بل اړخ به جهاد وی او دواړه لوری حقیقة جهاد کوونکی او مجاهدین هرګز جوړیدلای نشی امادجنګ په اړه حتمی ده چی دواړه اړخه دی جګړه ماروی دبیلګی په توګه هغه تول کششونه او هلی ځلی چی (اعلی کلمة الله)یی هدف نه وی هغه جنګونه دی او کوونکی یی جګړه ماران دی اجهاد عبادت دی مادی او معنوی اصلاح ده . جنګ دشریعت څخه بغاوت فساد شر معصیت مادی او معنوی اغوا او دامن امان تالا ترغه کول دی جهاد تولنه دفساد ظلم او استبداد څخه خلاصوی ، جنګ معشره ددربدری او هلاکت سره لاس په ګریبان کوی . جهاد په تولو اړخونو حالاتو او شرایطو کی دعبادت په شکل او طریقه اجراء کیږی جنګ ددی خصوصیاتو خلاف

عمل دی .

جهاد دخلکو ناموس ، شرف ، عزت ، وقار ، امن ، او امان تامینوی جنګ شرف ، وقار ، ناموس ، امن او امان ...... له منځه وړی.

جهاد په خپل سپیځلی مسیرکی سپین ږیری بوداګان ، ماشومان ، ښځی او معنوران دشفقت په لمن کی پالی جنګ کی داپول انسانی مقاصد نه وی مطرح جهاد دځمکی دپراخوالی ، مالونو ، معدنونو ، قدرت ، تسلط ، استعمار ، استثمار ..... او دی ته ورته اهداف نلری او جنګ ددی کارونو دتحقق لپاره وی جهاد د ذالجلال (ج) په حکم دقران او حدیث دمحتوا په وفق پیل کیږی او ادامه پیداکوی .

جنګ دجامعی دمسلطو اشخاصو په خوښه او اراده پیل کیږی او دمسلطو افرادو دخواهشاتو او ارزوګانو په اساس رهبری کیږی .

جهاد د اسلام او مسلمانانو نه ختمیدونکی دنده او خاصه ده. جنګ دکافرانو او کفر علامه او وظیفه ده او که مسلمانانو کی شخړه موجوده شی دفساد معنی لری او ګناه ده. دجهاد مجاهدین غلا، زنا، لوټ ، چپاول ، زیاتی ، تیری ..... نه یواځی داچی پخپله یی نکوی بلکه ددی اعمالو مخ نیوی کوی او دکوونکو سره یی جهاد ته ادامه ورکوی .

موږ په افغانستان کې څه وليدل؟

په افغانستان کې دنيول شوو روسي عسکرو خاطرې :

دمسلم ژباړه

دکومو دری تنو پوځیانو کرهوره اونظریات چې پورته ذکر شول هغوی دمجاهدینو سره تر یو ځای کیدو وروسته دروسیی دکمونیست ګوند دعمومی منشی «چرننکو» په نوم پرانستی لیك ولیکه ، هغه ډیر جالب دی موږ یې اصل اوژباړه دلته تاسوته وړاندی کوو :

موږ په افغانستان کی جنګیدونکی پخوانی پوځیان ، دروسانو دپالیسو پر خلاف داحتجاج په پول خپلی پوځی دندی پریښو دی موږ په رونبانه توګه پر افغانستان باندی دروسانو یرغل غندو ، ددی په لومړی مرحله کی افغانانو زیاتی وینی توی شوی ، اوددی په مقابل کی

د(۶۰۰۰۰) زرو څخه زیات روسی پوځیان وژل شوی ، (۴۰) لکه افغانان پاکستان اوایران ته دمهاجرو په پول تیل وهل شوی پر روسی قوم دی جنګ زیات اقتصادی فشار اچولی ، دتاسو په مشری کی روسی قوم یوی بی ګتی جګړی باندی اخته کړای شوی په دې خاطر پر موږ فرض دی چی څومره ژرکیدای شی ، دی خونړی جګړی ته خاتمه ورکړو افغانانو ته په خپله خوښه دفیصلی ورکولو حق ورکړشی .

موږ ستاسو پام هغو روسی بندیانوخواته هم راړوو چی خپل هیواد ته تګ غواړی ، موږ داهم غواړو چی

دروسیی نوی قیادت دپخوانی قیادت غلطی تکرار نکړی ، پخوانی قیادت روسی بندیان دخان دښمنان بلل ، اودهغوی دازادی ورکولو دضمانت څخه یی هم سرغړونه کوله ، په دوهم نړیوال جنګ کی کوم روسی پوځیان چی «هټلر » نیولی وو دهغوی سره مرسته وشوه ، موږ غوښتنه کوو چی روسیی خلکوته دافغانستان په باب رښتیا ووایی ،موږ هیله څرګندوچی دروسی دمشر په صفت به تاسو زموږ لیك په دقیقه توګه ولولی او هغه به خلکوته ورسوی .

موږ به ددی مسایلو تر حل کولو پوری خپلی هلی ځلی جاری وساتو ځکه چی دروسیی دخلکو نظر

دافغانستان په باب ستاسو سره توپیر لري ، تول روسی پوځیان داسی وائی چي داجګړه ناحقه ده کوم چی دبرژنف په دوران کی پیل شوی ، که څه هم چی دنورو دورو حکومتونو هم پر نورو هیوادونو دکمونیزم دمسلطولو په خاطر جګړی کړی ، خوزه دهغوی له تفصیل څخه خبر نه یم. کوم څه چی ماپه افغانستان کې لیدلی موږ له تاسو څخه هیله کوو چی په لومړی فرصت کې داغلطی اصلاح کړی .

پولی تنکوفوادیم الیګزیندرسویچ بوسوف

سیرګی الیګزانیدریویچ ولادی نووموف اناطولویچ.

دافغانستان دجګړی ...

حال کی پیل شو چی نه خودنړۍ هیڅ هیواد روس غوندی ستر طاغوتی طاقت سره دېغری وهلو توان په ځان کی لیده اونه خو دچا پدی باور کیده چی داځو سرلوڅی اوپښې‌لوڅی افغانان به چی یوازی دافغان اوانګلیس دجګړو په زړو وسلو باندی سمبال ؤ ، وکولای شی دشلمی پیړی‌په مډرنه وسله تر غاښونو پوری په وسله سمبال پوځ سره دمقاومت تاب ولری ! توله نړۍ ددی شاهده ده چی افغانانو دسره استعمار اودهغوی دمزدورانو په مقابل کی خپله مبارزه په تش لاس ، دهرپول بهرنی امداد اومرستی څخه پرته او یوازی په خدای (ج) باندی دټینګ ایمان اوپخی عقیدی پر استناد پیل کړه ، اودنړۍ دستر خونړی قوت د ختمولو لپاره یی هغی ته ادامه ورکړه ، چی بهرنی امداد بیا ډیر وروسته اوپس له هغه چی نړیوال پدی مطمئن شول چی افغانان کولای شی ، دسرو لښکرو اودهغوی دمزدورانو سره مقاومت وکړی‌پیل شو .

نن چی «شیلاتیف» اودهغی په څیر ګڼ شمیر نور دلویدیځ ژورنالستان ددوی په اصطلاح دافغانانو دجګړی ختم دبهرنی امداد په بند ښت پوری مربوط بولی ، باید په یاد ولری چی داجګړه نه دبهرنی امداد په امید پیل شوی وه اونه به ددی امداد پر بند ښت پای ته ورسیږی .

د«کرسچن ساینس مانیتر» دورځپانی خبریاله د خپل راپور په دوام کی دمجاهدینو دیوی ډلی دمشرله «عدم محبوبیت »څخه خبری کوی اوداهم لکه پورته ذکرشوی مسایل دافغانستان دجګړی !! دختم لپاره دیوه دلیل په حیث وړاندی کوی !

لومړی خو«شیلاتیف » دمجاهدینو یوه مشر دعدم محبوبیت لپاره زما په فکر هیڅ قانع کوونکی دلیل نلری اودا دایرانیانو په اصطلاح هسی « حرف مفت » دی چی غږ وی یی ، بل لوری ته نه پوهیږو دغه محترمه خبریاله اولویدیځ مطبوعات ولی ددی حقیقت له درك څخه عاجز دی چی دکفر اوښکیلاك پرضد دافغانانو جهاد دیوه مشخص رهبر ، یوی مشخصی ډلی یایوه تن خبره نده ، دادافغانستان دمیلیونونو غیرتمنو مسلمانانو دیوه اسلامی پاڅون جریان دی اودیوه شخص یایوه رهبر محبوبیت یاعدم محبوبیت هیڅ کله نشی کیدلای دهغی ددوام یاختم لپاره دلیل وګرځی .

"شیلاتیف" دخپلو خبرو په دوام کی لیکی :« مجاهدین دخوست په نیولو باندی ډیر مغروره دی مګر لویدیځ کتونکی دخوست نیونه بدمرغی بولی ، ځکه ددی ځای په نیولو سره مجاهدینو دغنیمت دتقسیم پر سر په خپلو کی بی اتفاقه شول اوښاریی چور او تالاکړ...»

دمیرمن «شیلاتیف »دغه برداشت اوداپول څیړنه دکابل راډیو هغه تبلیغاتی خپرونی سړی ته وریه یادوی په کوموکی چی دمجاهدینو اواسلامی جهاد دبدنامولو اوپه ولسی پرګنو کی دهغی بی اهمیته کولو لپاره دهیڅ پول ښکرورو درواغو له ویلو څخه هم ننګ نه کوی !

پدی کی دشك ځای نشته چی مجاهدین دخوست پر فتحه ډیرخوشحاله دی ، اودازموږ په جهادی تاریخ کی یوه ستره او ویاړمنه فتحه ګڼی ولی نه پوهیږو نوموړی خبریاله په کوم اساس داخبره کوی چی مجاهدین دغنایمو دویش په سر بی اتفاقه شوی ! پداسی حال کی چی خوست لکه څرنګه چی دیوی مشترکی جهادی شورا دګډو هڅو په نتیجه کی فتحه شو، دهمدی پول یوی شورا له خوا اوس اداره کیږی هم ! اوداچی دخوست مجاهدین دغنایمو په ویش سره بی اتفاقه شوی دایوازی اویوازی دکابل راډیو هغه ښکرور درواغ بللای شو چی ماهیت یی تولو نړیوالوته څرګند دی .

«شیلاتیف » دخپل رپوټ په ترڅ کی یو زیات شمیر نور مسایل سره راغونډوی ترڅو داثابته کړی چی دافغانستان جګړه نوره پای ته نژدی شوی اومجاهدین باید حتماً دسیاسی حل لاره ومنی .

ددی رپوټ په طول اوعرض کی همدا کوشش شوی چی دخارجی مرستو بند ښت دافغانستان دجګړی دختم دلیل وبولی .

ولی ګومان کوم «شیلاتیف» دواقعیتونو له دایری څخه خورا لیری نظر لری ، یاداچی څه نه ګوری اویانه غواړی څه وګوری !

په پنځم مخ

گام ثمربخش . . .

گرد هم ایی اخیرسه جانبه دراسلام آباد که باشرکت جانب افغانی پاکستانی وایرانی دایر گردید علاوه ازآنکه درجهت بهم فشرده گی مجاهدین گام مثبت وسازنده بود درواقعیت امر این نخستین تائید وتاکید رسمی حکومات ایران وپاکستان نیز است که از مجاهدین بعمل می اور ند ، گرچه هردوکشور تاحال حکومت مؤقت مجاهدین افغان را برسمیت نشناخته اند اما جلسه رسمی سه جانبه اخیر خود میتواند جنبه تائید سیاسی ازجناح مجاهدین دربرابر رژیم کابل را داشته باشد .

این نخستین دست اورد ارزشمند کنفرانس اسلام اباد بود گذشته ازان این گام میتواند اغاز یك تحرك سیاسی در جناح فعالیت های فزاینده وموفقیت های چشمگیر نظامی درسال جاری باشد ، مجاهدین ازآغاز سال جاری که آنرا با فتح خوست آغاز کردندتا الحال فتوحات نمایان وبا اهمیت رادرتمام سمت های کشور نموده مواضع وموقف رژیم راهرچه بیشتر تضعیف نموده اند وراه اندازی فعالیت های سیاسی اخیر میتواند این پیروزیهای را مثمر تر ومفید تر برای جهاد بسازد .

کنفرانس سه جانبه اسلام آباد همچنان اساس مستحکم رابرای ادامه تماسهای سیاسی میان مجاهدین ، ایران وپاکستان گذاشته است که وقتاً فوقتاً صورت خواهد گرفت ، که یقیناً هرگونه ازین سلسله تماسها برای تحکیم موقف سیاسی مجاهدین وداعیه برحق افغانها مفید خواهد بود .

درجلسه فیصله بعمل امد تا نشست بعدی درماه سنبله درایران داهر گردد ومجاهدین طرحهای توحیدی خویشرا دران ارایه دهند .

قسمت بیشتر قیادت جهادی از نشست ونتایج گرد همایی اسلام اباد استقبال نموده واینگونه اجتماعات برادرانه رامثبت ارزیابی نموده اند .

توقع نیروهای جهادی اینست که نشست بعدی درایران سومند تر از نخستین ان باشد البته این ارزو درصورتی بهتر براورده خواهد گردید که دولت ایران وپاکستان مانند گذشته صادقانه ازداعیه برحق مجاهدین حمایت نمایند .

تاجائیکه منابع خبری اطلاع داده اند ارتباطات نهانی میان ایران ورژیم دست نشانده روس درکابل صورت گرفته است که این امر صداقت مجاهدین نسبت به حکومت ایران راخدشه دار می سازد تاجائیکه افشا شده حکومت ایران با رژیم کابل بیشتر به تماس بوده وبقول منابع وافراد خصوصی این ارتباطات باوساطت روسها روبه افزایش میباشد ، بگفته بعضی منابع روابط ایران بارژیم کابل بسیار گسترش یافته وازین موقعیت ایران میخواهد به نفع اهداف مشخص بخصوص بعضی ازگروپ استفاده نماید .

ازانجائیکه کشورهای برادر ومسلمان ایران وپاکستان باپذیرفتن پنج ملیون افغان مهاجر خدمت بزرگ به جهاد ومردم افغانستان نموده اند وهر افغان باین حقیقت مبرهن معترف میباشد لذا درمرحله حساس ودشوار کنونی نیز توقع ما مجاهدین ومهاجرین ازدول مذکور اینست تا مانند گذشته به حمایت سیاسی خویش صادقانه ادامه بدهند تامردم مجاهد ما بتوانند اخرین سنگر دشمن را بانعره الله اکبر پایمال نمایند .

ازطرف دیگر توقع بیشتر مهاجرین ومجاهدین ازقیادت جهادی دررابطه اینست تا با اتحاد فکر واتخاذ تصامیم یکسان درموضع سیاسی خویش موجب نیرومندی بیشتر نیروهای جهاد درسنگر گرم جهاد گردند وبیش ازین نگذارند پیروزیهای بدست امده درسنگر رابا تناقضات ، بی اتفاقی ها وخود پسندی های خویش تضعیف نمایند .

په لوګر کې درژیم ۱۰ پوستی فتحه شوی

لوګر ، داسد ۱٦ مه :

دقوماندانانو شورا دفتر دلوګر له ولایت څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو په ګډه سره دلوګر ولایت په مرکز کی دکنجك تنګی په سیمه کی درژیم پرپوستو برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی درژیم اوه پوستی فتحه ، یو شمیر عسکراوملیشه مړه یاټپیان شوی او ۱۲ میله توپونه ، ۱۸ میله کلاشینکوفونه دیوی اندازی مهماتو اولوژستیکی موادو سره مجاهدینو ولجه کړیدی .

همدارنګه دقوماندانانوشورا دفتر دلوګر ولایت نه دنویو راپورونو په اساس وایی چی مجاهدینو په ګډه دکابل په جنوب دلوګر ولایت دمحمد اغی ولسوالی دزرغون ښار په لویدیزو غونډیو کی دکابل رژیم دملیشه وو پرپوستویاندی داسد په ۱٦ مه نیټه سرتاسری حملې پیل کړی ، چی په نتیجه کی درژیم ۸ پوستی فتحه شویدی ، اوقواو ته یی سخت مرګ ژوبله اوریدلی ده .

رپوټ وایی پدی تعرضی حملو کی ددښمن یوه دوسلو ډیپو او دری عرادی ټانکونه سوزیدلی ، او ۲۰ تنه عسکراوصاحب منصبان د۲۵ میله سپکو وسلو اوزیات مقدار نظامی مهماتو سره په اسارت نیول شوی .

په رپوټ کی دمجاهدینو له خوا په زرغون ښار باندی داسد په ۱۵ مه نیټه دیوی حملې دپه شاتمبولو څخه هم ذکرشوی دی .

په ګرشك کې ۲۱ پوستی فتحه او ۲۰۰ درژیم پلویان وژل شوی دی

هلمند ، میډیا :

دهلمند ولایت دګرشك ولسوالی څخه رارسیدلی خبرونه وایی مجاهدینو دګرشك پرولسوالی چی دکندهار ،هرات په لویه لاره باندی موقعیت لری داسد له ۱۳ می څخه تر ۱۸ می نیټی پوری پراخ بریدونه شروع کړل ، چی په نتیجه کی دګرشك ولسوالی په شاوخوا کی ۲۱ امنیتی پوستی فتح شوی اودرژیم دقواو ۲۰۰ تنه عسکر، ملیشه اومنصبداران وژل شوی دی .

دمیډیا خبریال په رپوټ کی زیاتوی چی پدغه جګړه کی ددښمن نظامی اولوژستیکی مهمات تباه اوهم اکثره مرکزونه یی داور لمبه شوی ۱۳ میله توپونه ، زیګویك ، ګرینوف اوسل میله کلاشینکوفونه د٦٠ تنو اسیرانو په شمول مجاهدینو ته په لاس ورغلی ، اودهرات کندهار لویه لاره دترافیکو پرمخ بنده ده .

عده از پیلوتان قوای هوایی کابل دست به اعتصاب زده اند .

کابل ، میدیا :

بگزارش خبرنگار اعزامی میدیا ازشهر کابل برخی ازپیلوتان بخش تعلیمی قوای هوایی رژیم دربگرام نسبت بی کفایتی وبرخورد نامساعد مقامات مربوطه اعتصاب کرده بست از کارکشیده اند.

بنابرگزارش یك انگیزه این اعتصاب اعتراض به مرگ چهار پیلوتی است که هنگام پرواز های تمرینی پراشوت شان نسبت نواقصی تخنیکی بازنشده و پیلوتان از بین رفته اند واین اعتصاب نوعی از جاروجنجالی رادرقوای هوایی براه انداخته است .

خبرنگار (میدیا) می افزاید که عده زیادی ازپیلوتان قوای هوایی دوام کار را درکابل به منفعت شان ندانسته ، درصدد فرار ازوظیفه وخروج از کابل هستند .

دروسي هيئات اوافغاني مجاهدينو ترمنح خبري اتري وشوي

اسلام اباد :

دروس دحکومت هغه هيأت چي دپاکستان څخه په رسمي ليدنه کتنه بوخت دي ، دافغاني مجاهدينو ديوه هيأت سره خبري اتري کري .

رپوټ کي ويل شوي چي دغه مذاکرات دپاکستان دبهرنيو چارو وزارت په دفتر کي ترسره شوي ، چي دمجاهدينو دهيأت مشري دمولوي صاحب محمد نبي (محمدي) اودروسي هيأت مشري د« کوزيروف » په غاړه وه .

پدغه مذاکراتو کي دافغانستان دربړي دحل په لارو چارو خبري اتري وشوي .

هیئت تحریر ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي ټاون پیښور

تیلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

دغزنی په ولایت کې ددښمن یوه پوسته ویجاړه شوه

غزنی ، میډیا :

مجاهدینو دغزنی ښار پر امنیتی پوستواو پوځی ځایونو باندی ددرندو وسلو څخه په استفادی سره داسد په ۱۰ ، ۱۱ ، او ۱۲ مه نیټه عملیات ترسره کړل ، چی دهغی په نتیجه کی دیوه پوستی په ویجاړیدو سره یو شمیر عسکراوملیشه مړه دوه عرادی ټانکونه او دری پوځی لاری داور لمبه شویدی.

رپوټ زیاتوی چی پدی جګړه کی (۹) تنو عسکرو دپوستی دقوماندان په شمول ځانونه دوسلو سره مجاهدینو ته تسلیم کړیدی .

رپوټ وایی چی دکابل رژیم دبمباری او دډزو له امله دغزنی ښار ته نږدی په شاوخوا کلیو کی یو شمیر کورونه له خاورو سره برابر شوی اویو شمیر بی ګناه کلیوال شهیدان شوی دی .

په لشکرګاه اوګرشك کی درژیم ۵۰ تنه افراد وژل شوی

هلمند ، میډیا :

میډیا دهلمند له ولایت نه رپوټ ورکړ ، چی مجاهدینو دلری ویشتونکو توپونو دډزو په واسطه دهلمند په مرکز لشکرګاه باندی سخته حمله وکړه چی په نتیجه کی درژیم دقواؤ یو شمیر سنګرونه ویجاړاوپکی (۵۰) تنه عسکراوملیشه اوصاحب منصبان وژل شویدی .

همدارنګه دهلمند ولایت دګرشك په ولسوالی باندی مجاهدینو دسکرشل توغندیو څخه په استفادی سره برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی دکمونست رژیم ۲۵ تنه عسکر، صاحب منصبان اوملیشه مړه اویو شمیر نور ټپیان شویدی .

همدارنګه پدی جګړه کی درژیم دصاحب منصبانو دری استوګنځی اویو شمیر نظامی ځالی تباه شوی اودښمن ته یی درانده تاوانونه اړولی دی .

عملیات مجاهدین هرات بر سنگر هاي دشمن

هرات ، میدیا :

مجاهدین هرات طی حملات جداگانه درولسوالی زنده جان یکصد وهشت تن از افراد دشمن را هلاك یا زخمی نموده ودودیپونظامی راطعمه حریق یکعراده تانك ودوعراده لاری را به اتش کشیدند .

نمایندگی میدیا درکویته به نقل از پیام رادیویی قوماندان اسمعیل خان خبر داد که مجاهدین بتاریخ ۱۳ اسد درمناطق قلعه عزت وقروق ولسوالی زنده جان عملیات اجرا نموده تعدادی از صاحب منصبان وعسکر رژیم رابه هلاکت رسانیدند همچنان دوعراده موتر نظامی رابه آتش کشیدند .

همچنان طی عملیات ایکه بتاریخ ۱۱ و۱۲ اسد درمربوطات ولسوالی زنده جان اجرا گردید ٥٤ تن از افراد دشمن هلاك یا مجروح ویکعراده تانك با سرنشینان ان ازبین برده شد .

خبر حاکیست که مجاهدین در ایام یاد شده قبلاً طی عملیات های متفرق چریکی وراکتی تعداد زیاد افراد دشمن راهلاك یا مجروح ودرمنطقه قلعه ملکی ولسوالی زنده جان دودیپوی مهمات دشمن رابه اتش کشیدند .

طبق یك خبر دیگر مجاهدین هرات بتاریخ ۱۵ اسد باانداخت سلاح ثقیل برمواضع قوای رژیم برمنطقه قلعه عزت هشت تن از افراد دشمن رابایك میل هاوان ازبین برده اند .

همچنان دریك خبر دیگر امده است که جنگ هرات که دوماه قبل ازسوی رژیم کابل علیه مواضع مجاهدین براه انداخته شد اکنون به رژیم به درد سر بزرگ مبدل شده است .

رژیم که درین جنگ هیچگونه موفقیتی بدست آورده نتوانست اکنون از طرف اهالی ولایت هرات نیزبحیث متجاوز مورد فشار وانتقاد قرار گرفته است .